# تصوف

# زبدة التصوف

## دَ مضمونونو فهرست


- دَ تصوف مختصر تعارف
- ثبوت
- دَ تصوف بنيادي مقصد
- دَ تصوف دَ يو بيل فن پهٔ طور ضرورت
- تصوف متنازعه ولې دے؟
- دَ علمي اشکالاتو جواب
- غالي صوفيانو ته جواب
- دَ تصوف څهٔ مفيد اصطلاحات
- دَ تصوف نچوړ
- دَ صحبت صالحين فائدې
- دَ شيخ ضرورت
- دَ مشائخو نه څهٔ تپوس کول پکار دي؟
- دَ شيخ کامل پېژندل
- مناسبت دَ شيخ
- دَ شيخ کامل دَ صحبت فائدې
- دَ طرٖيقت بيعت
- دَ بيعت حقيقت
- دَ بيعت کولو طريقه
- دَ بيعت پهٔ وخت تعليم
- دَ مرشد حقونه

- دَ شېخ اؤ دَ مرید تعلق
- دَ شېخ مقام
- دَ تصوف سلسلې
- دَ څلورو وا ړو سلسلو دَ مشائخو نومونه
- شجره اؤ دَ دې اهمیت
- دَ بنده نسبت
- امور تصوف
- د مطالعې حاصل
- دَ سالک دپاره مفید کتابونه
- یو معذرت
- ضروري خبرَونه

پرانزئ / بند کړئ

# دَ تصوف مختصر تعارف

تصوف یو متنازعه لفظ دے خو لېکن دا صرف پهٔ دې وجه دے چې بعضې خلقو دَ ناپوهۍ دَ وجهې نه دَ دې مطلب غلط واخستو ځکه دَ دې دَ افادیت نه ئې انکار وکړلو۔حقیقت دادے چې بعضې اعمال داسې وي چې هغه پهٔ ظاهره کېږي لکه نمونځ ،روژه ، زکوٰة اؤ حج اؤ بعضې اعمال داسې وي چې هغه زړهٔ کوي اؤ بل چاته ئې پته نهٔ لګي۔دَدې پته یا الله تعالیٰ ته وي یا بعضې وخت کولو والا ته۔ کهٔ دَ چا دا عملونه درست نهٔ وي نو که دَ هغهٔ ظاهري عملونه ډېر ښهٔ ولې نهٔ وي هغه قبولیت ته ونهٔ رسي۔بغضې ؤخت دَ دې قلبي اعمالو دَ خرابۍ پهٔ وجه دا ظاهري عملونه ضائع هم شي۔ پهٔ دې وجه دَ دې باطني عملونو درست کول ضروري دي بلکه ډېر زیات ضروري دي۔ نو داسې طور طریقې اختیارولو ته چې کومو سره دا باطني عملونه

صحیح شي ، تصوف وی‌لے شي۔دَ شریعت طریقو ته چونکې فقه ویلے کیږي نو ځکه دې طریقو ته فقه الباطن هم ویلے شي۔

## ثبوت

الله تعالیٰ چې کله انسان جوړ کړو نو دے ئې دَ خپلې اردې مختار وګرځولو۔پهٔ دهٔ کښې ئې دَ خیر اؤ دَ شر دواړې مادې کښیښودې لکه څنګه چې الله تعالیٰ پهٔ خپل کلام کښې فرمائی وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰهَا فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰهَاً و چې کله دَ خیر ماده څوک استعمال کړي نو فرښتې ورباندې رشک کوي اؤ که دَ شر مادې استعمال کړي نو نجسم شیطان جوړ شي۔ بیا ئې فرمایَلي دي قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَكّٰهَا وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسّٰهَا یعنې مادې خو ئې پکښې دواړه کښیښودلي دي لیکن پهٔ دو کښې ئې ورته چې کومه استعمالول غواړي دَ هغې دَ استعمال اختیار ورکړے دے لیکن چونکې دا دَ امتحان دپاره دي لهٰذا کهٔ دَ خیر دَ مادې نهٔ ئې کار واخستو اؤ دَ خیر کارونه ئې وکړل اؤ خپل ځان ئې دَ نفس دَ شر نه بچ کړو نو دے کامیاب شو ۔نو دغه طور طریقې اؤ معمولات چې کوم دي چې دَ دې په وجه دا کامیابي حاصلیږي دغې ته تصوف ویلے شي۔چونکې دا یو ضروري کار ؤ نو الله تعالیٰ دَ دې پاره دَ رهنمایۍ انتظام وکړو۔دَ دې پاره ئې دَ انبیا کرامو یوه سلسله جاري کړله۔دَدوي ۂ منصبي فرائضو کښې تزکیه هم وه۔تزکیه دَ خپل نفس دَ شر نه ځان بچ کولو ته وائی۔دَ ټولو په اخر کښې زمونږ خوږ پیغمبر محمد ﷺ راغلو۔پهٔ هغوی باندې قران پاک نازل شوچې هغهٔ دَ ټولو دینونو تکمیل وکړو۔اؤ دَ دهٔ نه پخکښې چې کوم کتابونه نازل شوي وو دَ هغوی دَ حفاظت چونکې وعده نهٔ وه نو هغه ټول دَ دهٔ پهٔ راتللو سره منسوخ شول۔اؤ قران پاک یواځې پهٔ کتابونو کښې دَ هدایت

ذريعه وګرځېده اؤ صرف پهٔ دهٔ باندې دَ عمل مطالبه وشوه۔حضور ﷺ پخپله هم پهٔ دهٔ عمل کولو اؤ ټول صحابيان ئې هم پهٔ دهٔ عمل ته تيار کړل۔ حضور ﷺ دَ قران پاک مطابق دَ خپل فرض منصبي ښهٔ حق ادا کړو کوم طرف ته چې پهٔ دې آيت مبارک کښې اشاره شوي ده۔ كَمَا اَرْسَلْنَا فِيْكُمْ رَسُوْلاً مِّنْكُمْ يَتْلُوا عَلَيْكُمْ آيٰتِنَا وَ يُزَكِّيْكُمْ وَ يُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَ الْحِكْمَة وَ يُعَلِّمُكُمْ مَالَمْ تَكُوْنُوا تَعْلَمُوْن۔بقرة ١٥١ دې کښې دَ حضور ﷺ پهٔ باره کښې ارشاد مبارک دے چې هغوی خپل صحابيان دَ قران پاک پهٔ تلاوت پوه کړل ، دَ هغوی پهٔ زړونو کښې ئې للٰهيت پېدا کړو اؤ هغوی ته ئې دَ قران اؤ سنت تعليم ورکړلو اؤ ډېر داسې علمونه ئې ورته وښودل دَ کومو نه چې مخکښې هغوی خبر نهٔ وو۔

پهٔ دې کارونو کښې وړومبے دَ قران پاک دَ تلاوت تعليم دے دَ کومې ذمه داري چې قاريانو صاحبانو اخستلي ده۔دې نه پس دَ للٰهيت تربيت دے دَ کوم چې ذمه داري صوفياء کرامو اخستي ده۔اؤ بيا دَ کتاب و سنت تعليم دے دَ کوم چې علماء کرام ذمه دار دي۔نو دَ اعمالو دوه قسمه شول يو کښې اعمال ظاهر يا اعمال جوارح راځي دويم اعمال قلب يا باطني اعمال دي۔علم ظاهر کښې تلاوت قران اؤ دَ کتاب و سنت تعليم راغلو اؤ په باطن کښې باطني علوم و احوال راغلل۔اګر چې دَ دې علومو تدوين وروستو شوے دے ليکن چونکې دا اصلي کارونه دَ نبوت دي پهٔ دې وجه دَ دوی سلسله حضور ﷺ ته رسي۔

دغه وجه ده چې دَ قران پاک دَ تلاوت اؤ دَ احاديثو دَ سماعت دَ سلسلو سره سره دَ تصوف سلسلے هم جاري شوې۔اګر چې دَ دې معروف نوم خو تصوف دے ليکن دَ حضرت سيد سليمان ندوي رحمة الله عليه دَ تحقيق مطابق دَ

دي قراني نوم تقویٰ دے کوم چې دَ ټولو علوم هدایت دروازه ده لکه چې په قران پاک کښې ارشاد فرمائیلے شوي دي چې ذَالِکَ الْکِتَابُ لاَ رَیْبَ فِیْہِ هُدیً لِّلْمُتَّقِیْنَ (بقرۃ۔ ۲) دَ دې مفهوم دادے چې په دې عظیم الشان کتاب کښې هیڅ شک نشته دے۔اؤ دا دَ هغو کسانو دپاره چې څوک دَ خداے نه ویریږي ، هدایت دے نو دا ضروري نه ده چې څوک دَ خداے نه نه ویریږي هغوی دې ترېنه هم هدایت واخلي۔ دغه وجه ده چې مونږه وینو چې دَ یونیورسټیانو اؤ کالجونو په کومو استاذانو کښې چې تقویٰ نشته هغوی دَ قران اعلیٰ مضمونونه په ډېره ښه طریقه بیانوي لېکن پخپله دَ هدایت نه محروم وي۔بخاري شریف کښې په حدیث احسان کښې دَ دې نوم احسان دے۔۔ دې ته څوک زهد وائی که تقویٰ، یا احسان کهٔ تصوف په دې کار صرف دَ زړونو دَ صفائي اؤ دَ نفس دَ اصلاح کیږي۔زړه ته چې کوم غلط اثرونه دَ غوږ ، سترګو اؤ دَ خؤلې په ذریعه راځي دَ هغو تلافي کولے شي۔انسان نه انسان اؤ مسلمان جوړولے شي۔ دَ زړونو نه تکبر ، عجب ،حسد کینه ،ریا ،بدګماني اؤ خود پسندي ویسلے شي اؤ پکښې تواضع ، مسکیني ،اخلاص ، نیک ګماني ، تفویض ، توکل اؤ خود احتسابي اچولے شي۔دهٔ ته هر وخت دا احساس ورکولے شي ، په نورو لفظونو کښې دَ انسان زړه دَ دنیا دمحبت نه خلاصولے شي اؤ دَ خداے پاک دَ محبت نه ډکولے شے اؤ هر وخت ورته دا احساس ورکولے شي چې تهٔ چرته نه راغلے یې اؤ چرته به ځې؟ اؤ چې چرته تلل دي هلته به څهٔ وي اؤ دَ هغې دپاره څهٔ کول دي۔نو کول خو هم هغه دَ شریعت اتباع دي دَ څهٔ دپاره چې مونږ پیدا شوي یو لېکن تصوف کښې په دې زور اچولے شي چې دا ټول هر څهٔ صرف دَ الله تعالیٰ دَ رضا دپاره شي۔ حضرت مولانا مسیح الله خان

صیبؒ چې دَ حضرت تهانویؒ مجازِ بیعت ؤ هغوی دَ تصوف یو مختصر اؤ جامع تعریف کړے دے فرمائی چې :
پهٔ تصوف کښې ټول ریاضتونه اؤ کوششونه دَ دې دپاره کیږي چې دَ الله تعالیٰ سره دائمی تعلق حاصل شي اؤ هر کار دَ الله تعالیٰ دپاره کول نصیب شي۔

## دَ تصوف بنیادي مقصد

دغه تعریف چې کوم بره شوے دے دا دَ تصوف جامع تعریف دے پهٔ دې دې ځان بنده ښهٔ پوه کړي ځکه چې پهٔ دې پهٔ قران پاک کښې دَ ولایت وعده ده۔ "بَلیٰ مَنْ اَسْلَمَ وَجْهه لِله وَ هُوَ مُحْسِنٌ فَلَه آجْرُه عِنْدَ رَبِّه وَلَا خَوفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ (بقرة ۔۱۲۱) "
دَ دې مفهوم دادې چې چا خپل مخ الله طرف ته تاؤ کړو یعنې دَ زړهٔ قبله ئې درسته کړه اؤ ټول کارونهٔ ئې دَ الله تعالیٰ دپاره کړل اؤ دَ نیکۍ کونکے ؤ یعنې پهٔ شریعت باندې روان ؤ نو هغهٔ ته به الله تعالیٰ اجر ورکړي اؤ نهٔ به په وېره وي اؤ نهٔ به غمجن وي۔ لَا خَوفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ نخښه ده دَ ولایت ځکه چې الله تعالیٰ فرمائیلي دي چې " اَلَآ اِنَّ اَولِیَاءَ اللهِ لَا خَوفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ " دَدې مفهوم دادے چې آگاه شئ چې اولیاء کرام باندې به نه وېره وي اؤ نهٔ به غمجن وي دا مفهوم پهٔ سورة اعراف کښې نور هم وضاحت سره راغلے دے "یٰبَنِیْ اٰدَمَ اِمَّا یَأْتِیَنَّکُمْ رُسُلٌ مِّنْکُمْ یَقُصُّوْنَ عَلَیْکُمْ اٰیٰاتِیْ فَمَنِ اتَّقٰی وَ أَصْلَحَ فَلاَ خَوفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ (الاعراف ۳۵) " **یعنې** اے بني آدمه (مونږه تاسو ته پهٔ عالمِ ارواح کښې وئیلي وو ) کهٔ تاسو طرف ته پیغمبر راغلو کوم چې به ستاسو نه وی کوم چې به زما احکامات تاسو ته بیانوي نو دَ هغهٔ پهٔ راتلو باندې چې پهٔ تاسو کښې کوم کس دَ هغه نخښو دَ

تکذیب نه ځان وساتي اؤ خپل عملونه درست کړي نو پهٔ هغو به پهٔ قیامت کښې نهٔ څهٔ وېره وي اؤ نهٔ به غمجن وي۔

## دَ تصوف دَ یو بیل فن پهٔ طور ضرورت

لکه څنګه چې پهٔ ظاهري عملونو کښې بعضې فرض دي بعضې واجب ، بعضې سنت دي بعضې مستحب ، هم دغه شان پهٔ باطني عملونو کښې هم بعضې فرض دي بعضې واجب ، بعضې سنت دي بعضې مستحب۔بل طرف ته پهٔ ظاهري عملونو کښې بعضې حرام دي بعضې مکروه تحریمي اؤ بعضې مکروه تنزیهي، هم دغه شان پهٔ باطني عملونو کښې بعضې حرام دي بعضې مکروه تحریمي اؤ بعضې مکروه تنزیهي۔پهٔ دغه وجه به دَ هر څیز به دَ هغهٔ دَ مقام مطابق مطالبه کیږي۔هرکله چې غټ غټ خلق به دَ یو باطني عمل ریا پهٔ وجه جهنم ته ځي نو بیا دَ دو نه بچ کېدل څومره ضروري دي۔ پهٔ سورة هود کښې دي ته اشاره شوي ده ۔" مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ ۔ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ۔ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ (هود ۵۱-۶۱)" کوم کس چې دَ خپل اعمالِ خیر نه محض دنیاوي منفعت اؤ دَ دې دَ رونق حاصلول غواړي (لکه شهرت نېکنامی اؤ جاه) اؤ دَ اخرت دَ ثواب دَ حاصلولو نیت ئې پکښې نهٔ وي نو مونږ به دَ دوی دَ عملونو جزا دوی ته پهٔ دنیا کښې پوره پوره ورکړو اؤ دَ دوی دپاره به پهٔ دنیا کښې څهٔ کمے نهٔ وي (یعنې دنیا کښې به دوی دَ دې عملونو پهٔ عوض کښې صحت و فراغ ، عېش و عشرت اؤ دَ مالونو اؤ اولاد کثرت ورکړے شي کهٔ دَ دوی دَ عملونو اثر دَ دوی پهٔ اضدادو باندې غالب وي اؤ که اضداد پرې غالب وي نو بیا به داهم نهٔ وي دا خو دنیا کښې شوه اؤ پهٔ اخرت کښې) دا داسې خلق دي

چې دوی ته بهٔ اخرت کښې دَ دوزخ نه علاوه بل څهٔ ثواب وغېره به نهٔ وي اؤ دوی بهٔ چې دلته څهٔ کړي وي هغه به اخرت کښې بالکل بېکاره ثابت شي اؤ اصل کښې چې دوی څهٔ کوی هغه خو اوس هم بېکاره دي (دَ نیت َ فسد په وجه مګر دَ ظاهر پهٔ اعتبار سره ثابت ګڼلے شي اخرت کښې بهٔ دا ثبوت هم زائل شي) دا ترجمه دَ بیان القران نه ترجمه شوي ده اؤ پهٔ قوسین کښې تفسیري کلمات دي۔دَ بخاري شریف دَ بخاري شریف وړومبے حدیث شریف دے "اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ"

دي مفهوم دادے چې دَ عملونو دار ومدار په نیتونو باندې دے یعنې دَ ظاهر شریعت دَ هر عمل نتیجه پهٔ دې منحصر ده چې دا عملونه پهٔ کوم نیت شوي دي۔ دغه سان دَ ترمذي شریف مشهور حدیث شریف مطابق درې کسان چې دَ ډېرو اوچتو عملونو خاوندان وو پهٔ دو کښې یو قاري ؤ دویم سخي اؤ دریم شهید لېکن چونکې دوی دا عملونه دَ الله دپاره نهٔ وو کړي نو پهٔ نتیجه کښې دَ جنت پهٔ ځاے جهنم ته ورسېدل۔ پهٔ دې حدیث شریف کښې دا هم دي چې پهٔ حضرت ابوهرېرة باندې به بیا بیا تیارهٔ راتله۔ دَ مسلم شریف دَ یو حدیث شریف مفهوم دادے چې دَ چا پهٔ زړهٔ کښې خلي هومره تکبر وي نو هغه به جنت ته نهٔ ځي۔ دَ دې نه دا اندازه لګېدے شي چې دَ ریا اؤ تکبر نه بچ کېدل څومره ضروري دي۔دغه دواړه دَ زړهٔ عملونه دي کنه نو ځکه دَ اخلاقِ حمیده حاصلول اؤ دَ اخلاقِ رذیله نه ځان بچ کول دَ روحاني صحت دپاره ډېر ضروري دي۔چاته چې دا صحت حاصل شي دَ هغهٔ زړهٔ ته قلبِ سلیم وئیلے شي لکه څنګه چې سورة شعراء کښې دَ الله پاک ارشاد مبارک دے چې "يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْنَ اِلَّا مَنْ اَتَى اللهَ بِقَلْبٍ سَلِيْمٍ" دَ کوم چې مفهوم دے چې هغه ورځ به مال اؤ اولاد

فائده نهٌ ورکوی بلکې قلبِ سلیم به فائده ورکوی۔ نو دَ دې آیت مبارک اؤ احادیث شریفه نه دَ تصوف ضرورت ښهٔ واضح شو۔ مخکښې دَ هر چا خپله مرضي ده ځکه چې دلته خو انسان ته اختیار ورکړے شوے دے اؤ دَ ښهٔ یا دَ خراب کار تعلیم بې شکه شوے دے ۔هرچا ته به دَ خپلې ارادې مېوه ملاویږي۔

اعمالِ ظاهره خو دَ فقهې پهٔ کتابونو کښې مدون شو دا خو دَ چا نه هم اېزده کېدے شي اؤ ورباندې بنده عمل کولے شي ۔ دَ دو دَ تشریح دپاره دَ چا عالم نه هم مدد بنده اخستے شي لېکن پهٔ خپلو خپلو حالاتو کښې پهٔ اعمال قلبیه باندې څنګه عمل وکړے شي دا البته اسانه خبره نهٔ ده۔مثلاً نمونځ ته وګورئ دَ دې پهٔ فرائضو ، واجباتو سنتونو اؤ مستحباتو ښهٔ ښهٔ کتابونه لیکلے شوي دي دو کښې چا دَ کوم کتاب مطالعه هم وکړه نو دَ نمونځ مسئلے به ور معلومې شي اؤ پهٔ لږ کوشش ئې بنده اېزده کولے هم شي۔ دَ دې دپاره څهٔ لو ئې عالم ته دَ تلو ضرورت هم نشته بلکې چا چې هم نمونځ ښهٔ ابده کړے وي هغه ئې بل ته هم ښودلے شي ځکه چې دې کښې هر څهٔ بالکل ظاهر ښکاري پهٔ دې وجه دَ دې اصلاح مشکله نهٔ وي۔لېکن کهٔ پهٔ نمونځ کښې کهٔ څوک خشوع یا اخلاص نهٔ لري نو دَ دې پېدا کول څهٔ اسان کار نهٔ دے۔ نهٔ خو دا محض دَ کتابونو نه دَ اېزده کولو څیز دے اؤ نهٔ دا دَ هر چا نه بنده اېزده کولے شي۔دَ دپاره بنده بهٔ خپل ځان دَ یو داسې کس لاس کښې ورکوي اؤ هغهٔ ته به دَ اصلاح دپاره ځان سپاري کوم چې پهٔ دغه لاره تېر شوے ۔ځکه چې علمي څیز دپاره علم بنیاد ګرځېدے شي اؤ عملي څیز دپاره عملي څیز ۔دا لاره چونکې نازکه ده دَ دې پهٔ وجه پکار دي چې دا راهنما دې پهٔ خپل فن کښې

ماهر وي اؤ مستند هم ـيعنې پهٔ دهٔ باندې اعتماد شوے وي اؤ دَ اعتماد دا سلسله تر حضور ﷺ رسيدلي وي۔ دغې ته سلسله وئيلے شي۔دغه وجه ده چې حضرت مولانا اشرف علي تهانويؒ فرمائيلي وو که څوک نمونځ نهٔ کوي نو دَ هغهٔ ماسره دومره فکر نهٔ څومره چې دَ هغهٔ وي چې دَ چا په زړهٔ کښې تکبر وي ـدَ دې وجه داده کهٔ بېنماز کس کهٔ دَ نمونځ ارداه وکړي نو پينځهٔ منټه کښې نمونځ ګزار کېدے شي اؤ متکبر کس کهٔ دَ تکبر دَ اصلاح ارداه هم وکړي نو دا تکبر خو به پهٔ کالونو کښې وځي۔

## تصوف متنازعه ولې دے؟

دا خبره رښتيا د پرېشانۍ باعث ګرځېدے شي چې اخر دا دومره مفيد اؤ اهم فن متنازعه څنګه جوړ شو۔کله چې مونږ دَ خپلو اکابرو کتابونو کښې ګورو نو زمونږه اکابر نه صرف چې دَدې فن قدردان ښکاري بلکې بعضې اکابرو خو دَ دې فن په خدمت کښې خپل عمرونه صرف کړي دي لېکن چې څوک هغوی طرف ته څوک ځان منسوب کوی هغوی دَ دې فن سره داسې معامله کوي لکه چې دا يوه ګمراهي وي۔دَ دې وجه دَدې عاجز پهٔ خيال کښې دا راغلي چې يو دَ تصوف مقاصد دي بل دَ تصوف ذرائع دي۔مقصد خو ټول مني خو دَ دو پهٔ ذريعو کښې خلق کلام کوي۔دَ دې وجه دا هم کېدے شي چې بعضې غلطو صوفيانو دا ذريعې خلقو ته دَ مقصد په صورت کښې پېش کړي دي۔ چې کوم ناواقفه دي دَ هغوی نه خو څهٔ ګيله نٔ ده پکار لېکن کوم کسان چې پهٔ دې پوهيږي لېکن صرف دَ خپلو ذاتي مفاداتو دپاره داسې کوي دَ هغوی نه اصلي تصوف رخصت شي اؤ صرف رسمي تصوف پاتې شي لکه څنګه چې بعضې سجاده نشينانو دَ خپل ابا و اجداد ګديانو سره کړي

دي-دوی بیا دَ خپلو خواهشاتو دپاره چې کوم خرافات دَ تصوف پهٔ نوم کوي دَ هغو کارونو پهٔ وجه دوه قسمه خلق ګمراهان شي -یو هغه چې څوک دَ دوی پهٔ دام کښې راشي اؤ دغه خرافات تصوف وګڼي اؤ دویم هغه خلق چې څوک پهٔ صحیح دین تلل غواړي هغوی دَدې خرافاتو پهٔ رد عمل کښې دَ اصلي تصوف نه انکاري شي-اګر چې دوی ته داسې کول نهٔ دي پکار ځکه چې څوک هم دَ غلطو ډاکټرانو پهٔ وجه صحیح ډاکټران نهٔ پرېږدي ، نه دَ غلطو تاجرانو په وجه صحیح تاجران پرېږدي نو دَ غلطو صوفیانو پهٔ وجه صحیح صوفیان څوک ځنګه پرېښودے شي-

حضرت تهانوی (رحمة الله علیه) فرمائی چې دَ ،تصوف اصول صحیحه دَ قران و حدیث نه ثابت دي اؤ کوم خلق چې وائی چې تصوف وران اؤ حدیث کښې نشته بالکل غلط وائی -دَ غالي صوفیانو هم دا خیال دے اؤ دَ خشک عالمانو هم دا خیال دے- خشک عالمان داوائی چې تصوف هیڅ شے نهٔ دے اصل څیز خو شریعت دے پهٔ دې عمل پکار دے دا تصوف پکښې لا چا رواوستے ؟ ګویا دَ هغوی پهٔ نزد قران و حدیث کښې تصوف نشته-چې کوم غالي صوفیان دي هغوی داوائی چې پهٔ قران و حدیث کښې خو دَ ظاهر احکام دي تصوف خو علمِ باطن دے یعنې دَ هغوی پهٔ نزد تصوف کښې هډو دَ قران و حدیث ضرورت نشته -غرض دواړو خلقو قران و حدیث دَ تصوف نه خالي وګڼل بیا پهٔ خپل خیال کښې یو تصوف پرېښودو اؤ بل قران و حدیث-

## دَ علمي اشکالاتو جواب

لکه څنګه چې په قران کښې " وَاَقِیۡمُوا لصَّلٰوۃَ وَاٰتُواالزکوٰۃَ " راغلي داسې "یٰۤاَیُّهَا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡااصۡبِرُوۡا وَاشۡکُرُوۡلِلّٰه" هم شته-کهٔ پهٔ یو ځائے کښې "کُتِبَ عَلَیۡکُمُ الصِّیَامُ" اؤ "وَلِلّٰهِ عَلَی النَّاسِ

حجُّ الْبَیْتَ" راغلي نو بل ځاے کښې "وَ یُحِبُّہُمْ وَ یُحِبُّوْنَہ" اؤ "وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْآ اَشَدُّ حُبًّا لِلہ" هم راغلي۔چرته کښې چې " اِذَا قَامُوْاِلَی الصَّلٰوۃِ قَامُوْ کُسَالٰی " راغلي هم هلته به " یُرَآؤُنَ النَّاسَ " هم ووینی۔آیا "اَقِیْمُوا لصَّلٰوۃ وَاٰتُوالزکٰوۃ " دَ امر صیغه ده اؤ "وَاصْبِرُواوَاشْکُرُو " دَ امر صیغه نه ده؟ " کُتِبَ عَلَیْکُمُ الصِّیَامُ " نه کۀ دَ روژې مشروعیت ثابتیږي نو "وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْآ اَشَدُّ حُبًّا لِلہ " نه دَ الله تعالیٰ دَ مینې مامور به کېدل نۀ ثابتیږي؟ دغه شان په احادیث شریفه کښې دَ نمونځ روژې ،بیع و شراء نکاح و طلاق بابونه کۀ بنده وینې نو دَ ریا اؤ کبر بابونه پکښې هم شته دے۔ کۀ بنده غور وکړي نو معلومه به شي چې دا ټول ظاهري اعمال خو اصل کښې دَ باطن دَ اصلاح دپاره دي اؤ دَ باطن صفائی موجب نجات ده اؤ دَ دې کدورت موجبِ هلاکت دے۔الله تاعلیٰ ارشاد فرمائی "قَدْ اَفْلَحَ مَنْ زَکّٰهَا وَ قَد خَابَ مَنْ دَسّٰهَا " بې شکه چې چا خپل نفس صفا کړو هغه مکمله کامیابي حاصله کړه اؤ چا چې دا خیرن وساتلو هغه ناکامه شو۔

" یَوْمَ لَا یَنْفَعُ مَالٌ وَّلَا بَنُوْن " یعنې پۀ هغه ورځ به نۀ دَ چا مال پکار راځي اؤ نۀ اولاد بلکې کوم کس چې هلته ځان سره سلیم زړۀ یوړو هغه به پکار راځي۔وګورئ پۀ وړومبي آیت کښې تزکیه باطن موجب فلاح ګرځولي شوي ده اؤ پۀ بل کښې دَ زړۀ دَ سلامتیہ نه بغیر دَ مال اؤ اولاد غیر نافع کېدل بیان شوي دي۔ایمان اؤ عقیدې پۀ کوم چې دَ ټولو عملونو انحصار دے، ټولې دَ زړۀ سره تعلق لري اؤ ظاهره ده چې څومره اعمال دي دا ټول دّ ایمان دَ تکمیل دَپاره دي نو معلومه شوه چې اصل مقصود دَ زړه اصلاح ده چې دَ کوم پۀ ذریعه بنده دَ قبولیت اؤ دَ قرب درجې حاصلوی اؤ دَ دغې نوم پۀ اصطلاح اؤ

عرف کښې تصوف دے۔ حضرت سید سلېمان ندوي ؒ یو مستفسر ته جواب کښې لیکي۔
دا دَ سلوک فن دَ نظري نه زیات عملي دے۔دَدې دپاره دَ داسې کاملینو ضرورت وي کوم چې پۀ حسن اعتقاد اؤ دَ عمل پۀ لحاظ سره پۀ سنتو پوره وي ۔کوم چې پۀ اخلاقو ، عادتونو ،اتباع اؤ امر و نواهي کښې دَ حضور ﷺ نمونه وي ۔دَ چا پۀ صحبت کښې چې دَ نبوي صحبت اثر وي اؤ دَ چا سلسله چې لکه دَ روایت دَ فن دَ سلسلې پۀ شان دَ حضور ﷺ صحبت پاک ته رسیدلي وي دَ کومې چې اصطلاحي نوم شجره ده ۔دا مفهوم حضرت شاه ولي الله ؒ پۀ دې الفاظو کښې بیان کړے دے۔علم حدیث ځنګه چې دَ روایت سلسله ده دغه شان دا سلوک دَ حضور ﷺ دَ صحبت سلسله ده۔دَ صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین ټول فېض دَ صحبت نبوت دَ تاثیر نتیجه وُ۔دې نه پس تابعین دَ صحابه کرامو رضوان الله علیهم پۀ فېض اؤ تبع تابعین دَ تابعینو پۀ فېض تیار شو۔دا درې دورونه داسې دي چې یوې جمعې دَ بلې جمعې نه پۀ جمع فېض اخستے دے۔ دَ تبع تابعین نه پس فتنو زور وکړو نو تعداد کښې کمے راغلو ۔دې پس دَ جمعې فېض ودرېدو اؤ دَ اشخاص کاملینو پۀ ذریعه وروستو حضراتو ته دَ هغوی دَ استعداد مطابق فېض راتلل شروع شو۔دَ دغې نوم وروستینو خلقو پیري مریدي کښېښوده ګني نو متقدمینو کښې دَ دې اصطلاح دَ صحبت وه لکه حضرت شبلي ؒ اؤ حضرت جنید ؒ ته به ئې صحبت یافته وې لکه دا چې فلاني کس دَ حضرت شبلیؒ اؤ فلاني کس دَ حضرت جنیدؒ صحبت کښې وخت تېر کړے دے ۔

## غالي صوفیانو ته جواب

پهٔ صوفيانو دَ هغوی دَ اکابرو اقوال حجت دي۔دې دپاره کهٔ غالي صوفيان دَ تصوف مدعيان دي نو هغوی ته پکار دي چې دَ خپلو اکابرو اقوال خپلې مخې ته کښېږدي۔پهٔ دې بعضې داسې دي:

حضرت بايزيد بسطامي ؒ فرمائی چې کهٔ تاسو څوک دَ کرامتونو والا وينئ چې پهٔ هوا کښې الوزي نو پهٔ دهوکه کښې رانشئ تر څو چې دا ونګورئ چې دَ امر ونواه ، دَ حفظ حدود اؤ دَ شريعت دَ پابندئ پهٔ اعتبار سره څنګه دے۔

حضرت جنيد ؒ ارشاد فرمائی چې پهٔ مخلوق ټولې دروازې بندې دي سوا دَ رسول الله ﷺ دَ لارې نه چې بالکل پهٔ هغې روان وي۔

حضرت ابوالحسن نوري ؒ ارشاد فرمائی چې تاسو څوک وګورئ چې دَ داسې حالت دعویٰ کوی چې دَ شريعت نهٔ ئې بهر کوی نو هغهٔ ته نزدې ورنشئ۔

حضرت خواجه نصير الدين چراغ دهلویؒ فرمائی متابعت دَپېغمبر ﷺ ضروري دے قولاً ، فعلاً اؤ ارادتاً ځکه چې دَ الله تعالیٰ محبت دَ حضور ﷺ دَ متابعت نه بغير نهٔ نصيب کيږي۔

حضرت خواجه معين الدين چشتيؒ فرمائی چې کوم کس چې پهٔ شريعت قائم شي اؤ احکام دَ شرعې باندې ئې عمل شروع کړي اؤ دَ دې نه دَ يو ويښتهٔ برابر انحراف هم نهٔ کوي دَ دهٔ مرتبه زياتيږي يعنې ټولې ترقۍ پهٔ دې موقوف دي چې پهٔ شريعت څوک ځان قائم ساتي۔

يو خبره ياده ساتل پکار دي چې بغضې وختونو کښې بزرګانو دَ نااهلو نه دَ دې علومو دَ حفاظت دپاره ذومعنې الفاظ استعمال کړي دي۔چې کوم اهل وو هغوی ترې صحيح معنیٰ واخسته اؤ نورو خلقو ترېنه خپلې خپلې معنې

ګاني واخستلې۔دَ دې نه اصل مفهوم پټ شو۔د دې په وجه ورستينو اهل حقو دا طريقه جوړه کړه چې دَ صوفياؤ کلام په قران و حديث پېش کړي که دَ هغې مطابق وي نو من وعن ئې واخلي اؤ کپ په ظاهره دَ قران و حديث سره متصادم وي نو بيا ئې په شرط دَ امکان څۀ مناسب تاويل وکړي چې شرعې ته برابر شي اؤ که دا ممکن نۀ وي نو دَ شطحياتو نه ئې وګرځي چې پکښې صوفي معذور ګڼلے شي خو عمل پرې نشي کېدے۔يا دا وګڼلے شي چې دَ دوی په قول کښې تحريف شوے دے اؤ دا دَ حقيقت نه څۀ لرې خبره نۀ ده ځکه چې دَ حضور ﷺ په احاديثو کښې که تحريف کېدے شي چې دَ حفاظت دپاره ئې دَ رجالو زبردست فن موجود دے نو دَ صوفيانو په قول کښې تحريف ولې نشي کېدے چې داسې حفاظت هم نۀ لري۔

که يو کس مثلاً دَ حضرت شيخ عبد القاد جيلانيؒ يو داسې قول راوړي کوم چې شرعې ته برابر نۀ دے نو په ځاے دَ دې چې مونږ دې دَ قران و حديث په تحريف کښې مبتلا شو دا ښه نه دا چې دَ هغوی دَ قول څۀ داسې تاويل وکړو چې دَ هغوی قول شرعې ته برابر شي اؤ که دا خبره ممکنه نۀ وي نو دا وګڼو چې دَ حضرت خبره دا نۀ ده دا چا بل دَ هغوی په قول کښې تحريف کړے دے ځکه چې خلقو ته دَ شيخ په کلام کښې تحريف کول دَ قران و حديث کښې دَ تحريف کولو نۀ ډېر اسان کار دے ځکه چې دا اسماء الرجال زرکاڼے نۀ لري اؤ احاديثو شريفو دپاره دا انتظام شته دے۔په دې طريقه به نۀ دَ شريعت مخالفت وشي اؤ نه به په شيخ څۀ الزام راشي۔دَ امت اکابرو هم دغه کار په داسې حالاتو کښې کړے دے ۔دا بيله خبره ده چې ورباندې بعضې خلقو دَ تاويل پرستۍ پچموزې کړې دي ليکن په څۀ کېږي ځکه چې مونږ ته خو خپل

دین بچ کول دي چې هغه دَ کتاب الله اؤ دَ رجال الله پهٔ یو وخت اتباع ده۔دې دپاره خو نه کتاب الله نه لرې کېدل دي اؤ نهٔ دَ رجال الله نه استغناء پکار ده۔ خارجیانو پهٔ خپل خیال دَ کتاب الله اتباع وکړه خو دَ رجال الله په پرېښودو ئې څهٔ حال شو تردې چې حضور ﷺ دَ هغوی دَ بې دینۍ پېشنګوئی وفرمائیله اؤ حضرت علي کرم الله وجهه پهٔ خپلې هغې کارنامې ټول عمر فخر کول کومه چې هغوی پهٔ نهروان کښې دَ خارجیانو دَ قتال پهٔ سلسله کښې کړې وه۔بل طرف ته باطنیانو دَ رجال الله دَ اتباع پهٔ نوم دَ کتاب الله پهٔ تحریف کښې دومره مبتلا شو چې دَ قران و حدیث نه ئې بالکل انکار وکړو۔دغه شان نهٔ ئې اعمال محفوظ شو نهٔ ئې عقیده محفوظه شوه۔امت بیا دَ دې ګمراهانو پهٔ لاره واپس راوستو کښې اؤ خلق دَ دوی دَ شر نه بچ کولو کښې ډېر نقصان برداشت کړو۔

پهٔ قلعه الموت کښې اؤ دَ فاطمیین پهٔ دور کښې عقل والو دپاره ډېر عبرتونه پټ دي۔

دَ تصوف اخري مقام خالصه بندګي ، فنائیت، اؤ بقا عند الله دے ده کوم چې لازمي نتیجه دَ الله تعالیٰ محبوبیت دے نو کهٔ څوک پهٔ دغه هومره خبره هم پوه شو نو پهٔ تصوف باندې به پوه شي۔هغه بهٔ دَ غالي متصوفینو پهٔ خوٙله دا نهٔ وائي چې شریعت بیل دے اؤ طریقت بیل بلکې طریقت به پهٔ شریعت دَ عمل تکمیلي صورت ګڼي یعنې یا خو صرف ظاهري طور باندې پهٔ شریعت عمل کول وي اؤ زړهٔ ورسره نهٔ شاملوي اؤ یا چې پهٔ شریعت باندې عمل پهٔ زړهٔ سره کوي نو هغه څنګه وي ۔دا به دَ شریعت تکمیل وي کهٔ مخالفت؟ هغه به دا خدا پرستۍ پهٔ جامه کښې هغه ماده پرست خلق هم وپېژني کوم چې دَ

ډېرو اوچتو اوچتو زبرګانو دَ استغنا خبرې ځکه کوي چې پهٔ دې خبرو دَ ساده ګانو پهٔ جيبونو ډاکې اچوي۔هغه به دَ فکر دَ مصلحينو پهٔ جامه کښې دَ فکر ی ګمراهی دَ خورولو واله هغه فلسفيان هم وپېژني کوم چې پهٔ خپلې کچ بحثی ساده سوده طريقت نه چيستان جوړوي۔ هغوی چونکې تصوف دَ فلسفې پهٔ چشمو کښې کتلے وي نو نورو خلقو ته هم هم دغه چشمې پهٔ سترګو کوی۔هغه به هغه پهٔ ظاهره دَ حضسور ﷺ پهٔ مينه کښې مرهٔ کېدلو والا هغه نفس پرست صوفيان هم وپېژني چا چې دَ خپلو نفساني خواهشاتو دَ تسکين دپاره پهٔ دين کښې نوي نوي طريقې ايجاد کړې وي اؤ دَ حضور ﷺ "كُلُّ بِدْعَۃ ضَلَالَۃ " ئې نه صرف خپله شاته غورزولے دے بلکې خپل متعلقين الله والو ته بالکل نزدې نهٔ پرېږدي چې هسې نه چې هغوی ته دَ حضور ﷺ دا پيغام و انورئ،کهٔ څهٔ کسر لږ دَ دې پهٔ باره کښې پاتې وي نو هغوی دې دَ مولانا محمد اشرف سلېمانيؒ کتاب سلوک سلېماني کښې دې غېر شرعي يا عجمي تصوف وګوري۔دا دَدې کتاب پهٔ جَلد اول کښې موجود دے۔هغې سره به انشاء الله کامله تسلي وشي۔

## دَ تصوف څهٔ مفيد اصطلاحات

پهٔ هر مسلمان دا فرض دي چې دَ الله تعالىٰ دَ منشاء مطابق ژوند تېر کړي۔دَ دې دپاره چې دَ کومو علوم حصول ضروري هغه فرض دي اؤ پهٔ کومو ذريعو چې دا انحصار لري دَ هغو حاصلول هم ضروري دي۔دا هم ليکلي شوي دي چې کومې ذريعې مقصود خو نهٔ دي ليکن دَ هغو دَ استعمال نه بغېر کهٔ هغه مقصد نهٔ شي حاصلېدے نو بيا هغه ذريعې هم لازمې شي۔دَ اسلام دَ ټولو تعليماتو سرچشمه قران اؤ سنت ده دَ کومې چې ابتدائي تعليم به پهٔ مجلسِ

نبوي کښې ورکولے شو اؤ چونکې ابتدائ دور ؤ نو اکثر مسلمانان پهٔ خپل مرکز کښې موجود وو دَ کومو چې تعداد هم هغه وخت کښې دومره نهٔ ؤ څومره چې بيا وروستو شو۔پهٔ دې وجه پهٔ دې نبوي درسگاه کښې هغه علوم ښودلے شو کوم چې وروستو دَ دَ علم حديث ، علمِ فقه ، علمِ تفسير اؤ علم تصوف پهٔ نوم مشهور شو لکه څنگه چې مخکښې صرف يو سائينس ؤ بيا ترې نه ډېر علوم رياضي ، فزکس ،کيمسټري وغېره جوړ شو۔ دَ دې علومو دپاره څهٔ جدا جدا شعبې نهٔ وې ځکه چې دَ ټولو اسلامي علومو دوه بنيادونه دي يو قران دويم سنت ۔سنت دغه وخت دَ صحبت پهٔ ذريعه حاصلېدو ځکه قران اؤ صحبت نبوي هر څهٔ هر څهٔ وو۔پهٔ دغه درسگاه کښې يوه ساده اقامتي شعبه هم وه چې پکښې به دَ الله پهٔ مينه مستداسې عاشقانِ رسول وسېدل چې هغوی به هر وخت پهٔ دې طمع وو چې څهٔ وخت هم دَ تعليم يا تربيت څهٔ موقع وي هغه ضائع نهٔ کړي ۔هم دَ دوی يېپهٔ ذريعه ډېر زيات علم امت ته رارسېدلے دے۔دوی ته به ئې اصحابِ صفه وې۔

وروستو چې کله اسلام پهٔ دنيا کښې خور شو اؤ دَ حضور ﷺ هم موجود پاتې نهٔ شو اؤ نهٔ دَ هغوی صحبت چا چې دَ هغوی صحبت موندلے ؤ نو دَ دې مقصدو دَ حصول دپاره دَ دين عالمانو بيلې بيلې شعبې قائمې کړې۔

چا چې دَ حديث خدمت واخستو هغوی محدثين شو ،چا چې دَ تفسير کار پهٔ ذمه واخستو هغوی مفسرين شو ، چا چې دَ فقهې خدمت وکړو هغه فقهاء شو اؤ چا چې دَ نفس دَ تزکيئ شعبه خپله کړه هغوی ته صوفيان ووئيلے شو۔پهٔ دغه وجه په اسلافو کښې څوک هم دَ دې قائيل نهٔ دي چې شريعت جدا دے اؤ طريقت جدا بلکې همېشه ئې طريقت دَ شريعت تابع کړے

دے۔راتلونکو صفحو کښې دَ څو ضروري اصطلاحاتو تعارف کولے شي۔دا اګر چې ډېر اسان دي لېکن دکاندارانو پیرانو دَ خپلو مفاداتو دپاره دَ دې نه څۀ داسې چیستان جوړ کړے دے چې بعض مخلصین خو دَ دې دَ نوم هم تښتي۔دَ دې دپاره دَ دې افطلاحاتو صحیح تعارف ضروري دے چې سالکین کم از کم پۀ دې پوه وي چې اخر موږ څۀ کول غواړو اؤ دوی ته څوک دکاندار دهوکه ورنکړے شي۔یو عالم فرمائیلي دي چې اصطلاحات دَ مبتدي دَ پاره پوړۍ ده اؤ دَ منتهي دپاره عېب دے ځکه چې مبتدي فن بغېر دَ هغې دَ اصطلاحاتو اېزده کولے نۀ شي اؤ منتهي ته ئې حاجت نۀ وي هغه خپل مطلب هر وخت پۀ مناسبه الفاظو کښې بیانولے شي ځکه چې هغه ښودل غواړي اصطلاحات نه۔هغه اصطلاحات دادي:

شریعت۔ دَ ژوند تېرولو کومه طریقه چې کومه زمونږ دپاره الله تعالیٰ غوره کړي ده۔ دَ هغې احکاماتو ته شریعت و ئیلے شي۔پۀ دو کښې ظاهري اؤ باطني ټول احکامات ر اغلل۔ دَ دو مونږ ته دَ رارسولو دپاره خوږ نبي راستولے شوے ۔هغوی پۀ خپل قول و فعل دا ښودلے دے۔دغه دَ هغوی دَ ژوند طریقه وه ځکه دغې ته سنتِ نبوي هم ویلے شوي دي ځکه خو حضور ﷺ ته شارع هم ویلے شي ګني پۀ حقیقت دا نبي ﷺ ایجاد نۀ دے بلکې دا احکامات الله تعالیٰ دَ طرف نه راغلي دي۔

فقه۔ دَ متقدمینو پۀ اصطلاح کښې فقه اؤ شریعت یو څیز دے لکه څنګه چې امام اعظم ؒ نه دَ فقې تعریف معرفت النفس مالها و ماعلیها منقول دے یعني دَ نفس دَ نفعې اؤ دَ نقصان څیزونه پېژندل۔ متاخرینو وروستو دَ شریعت هغه حصې ته فقه ووې چې کومه دَ ظاهري اعمالو پۀ باره کښې وه۔

تصوف۔ دَ شریعت هغه جزو چې دَ باطني اعمالو سره تعلق لري ،ته متاخرینو تصوف ویلي ۔ دا هغه فن دے چې دَ دې پهٔ ذریعه دَ زړه حالت معلومېدے شي چې روحاني طور باندې بیمار دے اؤ کهٔ صحتمند اؤ بیا کهٔ بیمار وي نودَ دهٔ علاج پکښې هم کولے شي۔دغې ته حدیث شریف کښې احسان وئیلے شي اؤ قران کښې چې څهٔ ته تقویٰ وا ئي کوم چې پهٔ ټولو اعمالو کښې ضروري دے تصوف دَ دې بلکې دَ ټولو اخلاقِ حمیده دَ حاصلولو اؤ دَ ټولو اخلاق رذیله نه دَ خلاصي یو ذریعه ده۔

حقیقت۔ پهٔ طریقت چې کله دَ زړهٔ اصلاح وشي اؤ عملونه صحیح شي نو دې سره په زړهٔ کښې صفا ئي راشي دَ کوم پهٔ وجه چې دَ بعضو اعمالو اؤ دَ څیزونو بالخصوص دَ اعمالِ حسنه و سیٔه حقا ئق اؤ لوازمات منکشف شي اؤ دَ الله تعالیٰ دَ صفاتو ادراک نصیب شي ۔دغې ته حقیقت و ئیلے شي۔

معرفت۔ دَ حقیقت دَ انکشاف نه پس بنده ته کوم قسم تعلق الله تعالیٰ سره ساتل پکار دي اؤ کوم نه ، دَ دې ادراک وشي اؤ دَ مختلفو څیزونو پهٔ استعمال اؤ پهٔ مختلفو حالاتو اؤ موقعو کښې دَ الله تعالیٰ دَ مرضۍ خیال ساتلو باندې پوه شي دغې ته معرفت اؤ داسې کس ته عارف و ئیلے شي۔عارف ته چونکې دَ خپل ځان دَ عجز اؤ دَ الله دَ عظمت ادراک حاصل وي ځکه هغه که هر څومره عالم شي یا طاقتور شي ځان کم ګڼي۔دَ آدم علیه السلام اؤ دَ سلیمان علیه السلام واقعه دې بنده دې دپاره ځان ته رامخکښې کړې۔

نسبت۔ دَ نسبت معنیٰ تعلق دے۔دا تعلق دَ دواړو طرفو نه وي ۔دَ تصوف پهٔ اصطلاح کښې دَ نسبت مطلب دَ بنده دَ الله تعالیٰ سره داسې تعلق دے چې دَ

دي پهٔ وجه هغه ځان همېشه دَ الله تعالیٰ مخکښې حاضر ګڼي اؤ هر وخت هغه پهٔ څهٔ نا څهٔ طریقه یادوي اؤ دا ئ کوشش وي چې الله تعالیٰ رانه خفه نهٔ شي۔دَ ده دَ عبادت اؤ طاعت طرف ته طبعي رغبت وي یاداسې عقلي رغبت وي چې پهٔ هېڅ صورت دے ترېنه مخ نهٔ شي اړولے۔دَ ګناهونو نهٔ طبعي یا عقلي داسې نفرت وي لکه چې متیازو نه وي۔هر وخت پهٔ سنت باندې دَ کار کولو کوشش کښې وي۔دغه سان دَ الله تعالیٰ دَ طرف څه داسې انتظام ورته وشي چې دَ معصیتونو نه دَ حفاظت انتظام ئې وشي اؤ دَ نیکیو توفیقات ورته ملاوېږي پهٔ کومو چې دَ الله تعالیٰ دَ رضا ترتب کېږي۔دَ دې آثار مختلف وي کله خو پخپله دَ روحاني تربیت سببونه جوړېږي ،پهٔ دیني کارونو کښې استعمالېږي ۔دَ اهل قلوب حضراتو پهٔ زړونو کښې دَده دپاره پخپله مینه پېدا کېږي اؤ دَ ده سره پهٔ ناسته دَ الله تعالیٰ استحضار حاصلېږي۔

بیعت۔ بیعت دَ تصوف پهٔ اصطلاح کښې دَ شیخ او دَ هغهٔ دَ مرید پهٔ مینځ کښې یو معاهده وي چې شیخ به دهٔ ته تعلیم کوي اؤ مرید به پهٔ دې تعلیم عمل کوي۔دَ دې مقصد دَ ظاهري اؤ باطني اعمالو اهتمام اؤ التزام دے دَ کوم دپاره چې مرید دَ زړهٔ نه شیخ خپل نګران ومني اؤ شیخ دَ خپلې پوهې اؤ تجربې په رڼا کښې دعا اؤ تعلیم سره دَ ده دَ مدد قصد کوي.دې ته بیعتِ طریقت وئیلے شي اؤ زمونږه بزرګانو دا پهٔ تواتر سره جاري ساتلے دے۔دَ دې شرعي حیثیت خو دَ سنت مستحبه دے لېکن دَ دې پهٔ برکت پهٔ فرا ئضو ، واجباتو اؤ سنتونو باندې عمل نصیب کېږي اؤ دَ ټولو نه زیات دَ ستائنې وړ دا چې دَ دې پهٔ برکت بعضې خوش نصیبه خلقو ته نسبت نصیب کېږي دَ کوم مخکښې چې دَ دنیا یو نعمت هم هېڅ حیثیت نهٔ لري۔ دَ خپل نفس اصلاح

کول دَ مرګ نهٔ مخکښې مخکښې فرض عېن دے اؤ بېعت دَ دې دپاره یوه ذریعه ده لېکن دَ دې شرعي حیثیت صرف اؤ صرف دَ سنت مستحبه دے۔

شېخ۔ هغه عارف چې دَ طریقت دَطالبانو چاته چې سالک یا مرید وئیلے شي ته دَ تعلیم کولو اهل وي ، ته شېخ وئیلے شي۔دَ شېخ دَ پېژندګلو دپاره مخکښې تفصیل راروان دے۔

مرید۔ هغه طالب چې دَ شېخ پهٔ لاس توبه کوي اؤ دَ خپلې اصلاح دَپاره دَ هغهٔ پهٔ لاس کښې لاس ورکوي اؤ دا عهد کوي چې هغه به دَ دې مقصد دپاره دَ خپل شېخ هره خبره مني اؤ انکار بهٔ نهٔ کوي۔

سلسله۔ دا دَ اعتماد هغه سلسله ده چې دَ موجوده شېخ نه تر حضور ﷺ رسیدلي وي۔ پهٔ هندوستان کښې څلور سلسلې زیاتې مقبولې شوي دي چې هغه سلسله چشتیه ، سلسله نقشبندیه ، سلسله قادریه اؤ سلسله سهروردیه دي۔کوم کس چې دَ کوم شېخ نه بېعت کوي هغه دَ هغهٔ پهٔ سلسله کښې داخل شي۔دَ دې سلسلو مثال لکه دَ فقهې دَ څلورو طریقو حنفي ، مالکي ، شافعي یا دَ حنبلي یا دَ طب دَ څلورو طریقو ایلو پېتهي ، هومیو پېتهي ، طب یوناني یا دَ اکو پنکچر پهٔ شان وي۔دَ دوی پهٔ اصولو کښې لږ لږ فرق وي خو دَ ټولو مطلب دَ روحاني صحت حاصلول وي۔

تلوین۔ دَ احوالو بدلېدلو ته تلوین و ئیلے کیږي۔کله چې دَ مرید تربیت کیږي نو پهٔ هغهٔ باندې عجیبه عجیبه انکشافات کیږي چې دَ هغې پهٔ وجه دَ هغوی احوال تبدیلیږي۔چونکې دا دَ کچه والي علامت وي نو سالک دَ دې نه پناه غواړي اؤ دَ تمکین پهٔ تلاش کښې وي لیکن تمکین دپاره تلوین وړومبے ضروري دے لکه څنګه چې منزل دپاره دَ لارې حیثیت دے ۔چونکې دَ تلوین

پۀ صورت احوال زر زر بدلیږي نو اګرچې هغه پۀ دې کښې معذور دے لیکن دې حالت کښې هغه دَ اقتدا قابل نۀ وي بلکې خپله دَ تلقین محتاج وي ځکه مشا ئخ دَ خپلو مریدانو دپاره دَ تمکین پۀ انتظار وي۔
تمکین۔ هر کله چې دَ تلوین پته ولګیده نو کله چې سالک دَ دې نه ترقي وکړي اؤ دَ خپل استعداد مطابق پۀ څۀ حالت محموده باندې ورته قرار نصیب شي نو دغې ته تمکین و ئیلے شي۔دغه وخت دا سالک دَ ټولو کارونو خپل خپل حق ادا کولے شي ۔دغې ته توسط اؤ اعتدال هم و ئیلے کیږي۔صاحبِ تمکین حق شناس وي اؤ واصل ګڼلے شي ځکه دَ تقلید قابل اؤ دَ اقتدا اهل وګرځي۔
سیر الی اللہ۔ سالک پۀ ابتدا کښې روحاني مریض وي دَ علاج دپاره دَ پرشدِ کامل طرف ته رجوع کوي اؤ پۀ دې کښې دَ اطلاع اؤ اتباع پۀ ذریعه دَ سالک روحاني بیمارۍ وروورو لرې کیږي تردې چې پۀ درجۀ ضرورت کښې دَ سالک زړۀ دَ دو بیمایو نه پاک شي اؤ دَ ددۀ نفس تزکیه وشي دَ کوم طرف چې قران پاک کښې اشاره ده چې چا خپل نفس پاک کړو هغه کامیاب شو قد افلح من زکّٰها یعنې بې شکه چې چا خپل نفس پاک کړو هغه کامیاب شو ۔دَ دې سره سره اخلاق حمیده مثلاً تواضع ، اخلاص ، تفویض حب الٰهي ، حب رسول اؤ دَ انابت الی اللہ صفات پیدا شي اؤ پۀ دې کښې دَ رسوخ درجه ورته حاصله شي یعنې دا صفات په زړهٔ کښې ځاۓ جوړ کړي اؤ دَ دو دَ حاصلولو پۀ تدبیرونو اګاهي پرې وشي نو دا بنده و ئیلے شي چې دَ دې سالک سیر الی اللہ مکمل شو ۔دې نه پس سالک ته دَ علم الیقین سره فناۓ تام حاصله شي اؤ شیخ اکثر دهٔ ته اجازت ورکړي۔

سیر في الله. دَ سیر الی الله نه پس په قلب کښې دَ تزکيې اؤ دَ تقویٰ په ذريعه يوه رڼا پيدا شي اؤ سالک مسلسل خپل زړه دَ مسوا نه فارغوي نو دَ حق تعالیٰ اؤ صفات اؤ دَ افعال حقا ئق کونيه دَ شرعي اعمالو حقا ئق په سالک داسې منکشف کيږي چې دَ ده تعلق دَ الله تعالیٰ سره ورځ په ورځ زياتوي اؤ هغه دَعين اليقين نه دَ حق اليقين په سفر روان وي. دغې ته سیر في الله وا ئی چې دَ کوم هيڅ حد نشته .څومره حصه چې چې لهٔ خپل رب څخه وموندله دَ هغه حصه ده.تر مرګه دا سفر روان وي اؤ دَ تفريد و تجريد په ذريعه دَ قرب درجې حاصلوي چې په کښې دا عين ممکنه ده چې لهٔ خپل شيخ څنې هم مخکښې لاړ شي.

دا خبره دَ نوټ کولو قابله ده چې په بعضې کتابونو کښې دَ سیر في الله نه پس هم دو سيلونه دي ليکن دَ هغوي دَ بيل بيان ضرورت نشته ځکه چې حقيقت کښې دا دوه سيلونه هم سیر في الله کښې راځي.تر څو چې دَ شيخ په نګرانۍ کښې دَ سلوک دَ طے کولو کار دے هغه صرف سیر الی الله دے اؤ دَ سیر في الله په باره کښې که بنده څهٔ و ئيلے شي نو هغه دا چې

ميان عاشق و معشوق رمزے ست کراماً کاتبين راهم خبر نيست

دې نه پس څهٔ پته چې څوک دَ خپل جمال په مشاهده کښې مستغرق کړې کوم ته چې په اصطلاح کښې مستهلکين و ئيلے شي يا ئې دَ مخلوق دَ اصلاح دپاره په صفت بقا متصف کړي داسې حړراتو ته راجعين يا مرشدين و ئيلے شي.دا دَ الله تعالی حکمت دے چې څهٔ فيصله هم وفرما ئې منل ئې پکار دي. دَ مرشدينو ظاهر دَ عام مخلوق په شان کړي اؤ دَ دوی په ذريعه خپلو بنديانو دَ شريعت احکامات رسوي.

علم الیقین۔ دَ دې مثال داسې دے لکه چې دَ مستنو کتابونو پۀ ذریعه چاته دا پته ولګي چې ملیریا بیماري څۀ ته وا یا اور سوزول کوي۔
عین الیقین۔ دَ دې مثال داسې دے لکه چې یو کس پۀ ملېریا بیمارۍ کښې مبتلا ځوک ووینی یا پۀ اور وسوزیدلے کس ووینی۔
حق الیقین۔ دَ دې مثال داسې دے لکه چې یو کس پخپله پۀ ملېریا بیمارۍ کښې مبتلا شي یا پۀ اور پخپله وسوزي۔

## دَ تصوف نچوړ

هغه خبره چې پۀ تصوف حاصلیږي هغه صرف داده چې په طاعت کښې کۀ ځوک سستي محسوسي دَ هغې سستۍ مقابله وکړي اؤ پۀ خپل همت هغه عمل وکړي اؤ که دَ څۀ ګناه تقاضا پۀ نفس زور وکړي نو دَ دې تقاضې مقابله وکړي اؤ دَ ګناه نه ځان بچ کړي ۔که چا ته دا خبره حاصله شوه نو هغۀ ته بیا دَ بلې هیڅ خبرې ضرورت نشته ځکه چې دا هغه ملکه ده چې تعلق مع الله پیدا کوي اؤر دغه دَدې کیفیت محافظ دے اؤ زیاتولو والا دے۔

## دَ صحبت صالحین فائدې

سورة فاتحهَ کښې الله تعالیٰ دَ دعا تلقین فرمائیلے دے۔پۀ دې کښې الله تعالیٰ ارشاد فرمائ ( اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَo صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَo ) پۀ دې کښې مونږه دَ الله تعالیٰ نه دا دعا غواړو چې اے الله مونږ ته نیغه لاره وښایئې۔ لاره دَ هغه خلقو چې پۀ چا ته انعام کړے دے نۀ دَ هغه خلقو چې ته ورباندې غصه یې اؤ نۀ دَ هغه خلقو چې ځوک بې لارې شوي دي۔ انعام پۀ چا شوے دے دې باره کښې قران پاک کښې راځي چې هغه

انبياء دي صديقين دي شهداء دي اؤ صالحين دي۔دَ نبوت خو سلسله ختمه ده ، صديقين ډېر لږ وي ، ډَ شهيدانو پته هغه وخت لګي چې هغوی دَ دنيا نه تلي وي لهٰذا صرف صلاحين پهٔ هره زمانه کښې داسې خلق دي چې څوک مونږ ليدے شو اؤ ورپسې تلے شو۔ الله تعالیٰ ارشاد فرمائی " کُوۡنُوۡا مَعَ الصّٰدِقِیۡنَ " يعنې تاسو رښتينو خلقو سره شئ۔دَ دې نه دا پته لګي چې الله تعالیٰ به تر قيامته فادقين پېدا کوي اؤ مونږ ته ورسره دَ کېدو حکم وي۔صرف کتاب باندې عمل مشکل وي ځکه خو کتابونو سره پېغمبران هم راغلي دي کله چې دَ صالحينو صحبت ميسر وي نو پهٔ کتاب هم بنده سم پوه شي ۔دَ قال نه تر حال رارسېدل لازمي وي اؤ دَ بغېر دَ صحبت صالحين نه ممکن نهٔ دي۔ يو حديث شريف کښې راغلي دي چې بچے پهٔ خپل فطرت پېدا شي اؤ بيا ئې تاسو يا يهودي جوړ کړئ يا نصراني۔دَ دې دپاره دَ صالحينو پهٔ صحبت باندې پوره زور اچولے شوے دے۔ دَ مولانا روم (رحمۃ اللہ علیہ دَ قول مطابق

یک ساعت در صحبتے با اولیاء بہتر از صد سالہ طاعت بے ریاء

يعنې دَ الله والو سره يو لحظه کښېناستل دَ زرو کالو دَ عبادت نه بهتر دي۔ دَ صحبت صالح مثال لکه دَ عطرو دَ دکان دے چې کهنور هېڅ هم نهٔ وي نو خو شبو خو بنده ته راشي اؤ دَ صحبت بد مثال لکه دَ لوهار دَ دکان دے که نور هيڅ هم نهٔ وي نو لوګے خو ئې پرېشان کړي۔دَ دې دپاره دَ صحبت صالح خيال ساتل ډېر ضروري دي ۔مولانا رومؒ فرما ئ چې :

صحبت صالح ترا صالح کند صحبت طالح تر ا طالح کند

دَ دې مطلب دادے چې نېک صحبت به تانه نېک جوړ کړي اؤ بد صحبت به دې خراب کړي کوم کس چې ځان دَ الله تعالی جوړول غواړي هغهٔ ته پکار دي

چې دَ اولیاۓ کرامو پهٔ صحبت کښې کښیني ګني نو نتیجه دَ دې خرابه جوړېدے شي۔دَ نېکانو دَ صحبت پهٔ باره کښې ډېر ښکلي اشعار دي:

گلے خوشبوئے دَر حمام روزے رسید از دست محبوبے بدستم
بدو گفتم که مُشکی یا عبیری که از بُوئے دلآویز تو مستم
بگفتا مَن گِلے نا چیز بُودم ولیکن مُدتے با گُل نشستم
جمالِ همنشین دَر مَن اثر کرد وگرنه این هماں خاکم که هستم

دَ دې ترجمه داده چې یو ورځ دَ یو محبوب دَ لاسه راته پهٔ حمام کښې یو خوشبودار ګل ملاؤ شؤ ۔ما ترېنه تپوس وکړو چې تهٔ مشک ئې یا عبیر ئې چې ستا پهٔ دلکش خوشبو باندې زما زړهٔ مست شو۔ راته ئې ووې چې ما څهٔ موده دَ ګل سره ناسته کړې ده۔ دَ هغهٔ حسن پهٔ ما اثر کړے دے ګني زهٔ خو هم هغه خاوره یم چې کومه وومه۔

## دَ شیخ ضرورت

لکه څنګه چې وو ئیلے شو چې نېک جوړېدو دَ پاره دَ نېکانو صحبت پکار دے۔دا یوه عامه خبره ده چې ترې هر څوک خبر دي لېکن دَ باقاعده تربیت دپاره دَ یو داسې نېک کس سره تعلق جوړول پکار وي کوم چې تربیت کولے هم شي اؤ دَ هغهٔ پهٔ تربیت کښې برکت هم راغلے وي۔عادت الله هم دغه شان راغلے دے چې بغېر دَ استاد نه یو فن کښې هم کامل نهٔ حاصلېږي۔کله چې څوک دَ طریقت پهٔ لاره تلل غواړي نو ورته پکار دي چې دَ یو داسې استادِ طریق انتخاب وکړي چې دَ دَ فیض ، تعلیم برکت اؤ صحبت پهٔ وجه دے خپل مقصود حقیقي حاصل کړي۔ حضرت عطارؒ فرمائ:

گر هوائے این سفر داری ولا
دامن رهبر بگیر وپس برآ

بار بايد راه را تنها مرد
بے قلاؤز اندريں صحرا مرو

کۀ دَ عشق دَ لارې دَ سفر شوق لرې نو دَ رهبر لمن ونيسه اؤ ورپسې روان شه .پۀ لاره کښې مشکلات وي يواځې مۀ ځه .پۀ دې صحرا کښې بغير دَ رهنما نه لار نشي.

کله صرف کتابونو وئيلو سره هم څوک کامل شوے دے؟ غټه خبره ده چې ترکان سره څوک تر کله ناست نۀ وي تر هغې ترکان نشي جوړيدے.درزي نۀ چې تر څو چل نۀ وي اېزده کړے تر هغې څوک ستن نشي لاس کښې نيسلے.دَ خوشنويس دَ شاګردۍ نۀ بغير څوک خوشنويس نشي جوړيدے.کۀ چاته صحيح راهبر ملاؤ شو نو دا دې دَ الله تعلیٰ لوۓ نعمت وګڼي اؤ دَ هغۀ دې پوره پوره استفاده وکړي.دې هستۍ ته شيخ وئيلے شي.هسې خو شيخ پۀ عربۍ کښې بوډا ته وائي ليکن دلته دَ دېنه مراد راهبر دے دَ چا پۀ لاس نيولو کښې چې دَ مقصود دَ زر حاصليدو اميد زيات وي.

## دَ مشائخو نه څۀ تپوس کول پکار دي؟

بعضې خلقو ته دا شبه وي چې کله کتابونو کښې هر څۀ ليکلي دي نو دَ مشائخو نه بيا څۀ تپوس کول پکار دي؟ لکه چې کوم څيز اختياري دے نو پۀ همت سره هغه کول پکار دي اؤ که اختياري نۀ دے نو بيا ئې پرواه نۀ دي کول پکار يا دغه شان چې دَ مقصود اؤ غير مقصود پته ولګيده نو بيا دَ شيخ څۀ ضرورت پاتې شو يا دَ هغۀ صحبت خو مفيد دے ليکن تپوس ترې بنده دَ څۀ کولے شي. دَ يو طالبعلم دَ داسې سوال پۀ جواب کښې حضرت حکيم الامت ورته دا وليکل چې مفهوم ئې دا دے:

مقاصد یعنې دَ څهٔ چې حکم وي یا دَ کومو نهٔ منع شوي وي هغه ټول اختیاري اعمال دي ـ باوجود دَ دې نه چې په دې باندې بنده پوه وي لېکن بیا هم دَ سالک نه داسې غلطیانې کېدے شي چې ورته اصل مقصود نهٔ حاصلیږي یا بعضې وخت کښې څهٔ مقام ورته حاصل شوے وي لېکن هغه غیر حاصل ګڼي مثلاً چاته دَ مجاهدې سره دَ خشوع مطلوبه کیفیت حاصل شوے وي لېکن هغهٔ ته بعضې غیر اختیاري وسوسې داسې زړهٔ ته راځي چې هغه داګڼي چې شاید ماته لا دَ خشوع کېفیت حاصل نهٔ دے اؤ دَدې پهٔ غم کښې مبتلا وي۔ بل طرف بعضې وخت کښې دَ بد پرهېزۍ پهٔ وجه مطلوبه کېفیت ختم شوے وي لېکن دے ئې دَ غفلت پهٔ وجه لا باقي ګڼي مثلاً دَ خشوع کېفیت ورته حاصل ؤ خو دَ غیر اختیاري وسوسو نه دَ اثر اخستلو پهٔ وجه هغه خشوع باقي باتې نه شو اؤ دَ غیر اختیاري وسوسو پهٔ وجه دهٔ په هغو کښې اختیاري طور باندې هم حصه اخستل شروع کړل ـ کله سالک ته دا غلط فهمي کېدلے شي چې هغهٔ پهٔ یو رذیله قابو وموندله لېکن هغهٔ ته لا مطلوبه رسوخ پکښې حاصل شوے نهٔ وي اؤ دے ترېنه بېفکره شي حالانکه پهٔ موقع ورته پته ولګي چې لا رسوخ حاصل شوے نهٔ ؤ مثلاً دو څلورو خفیفو حادثو کښې دَ رضا بالقضا ورته احساس وشو لېکن څهٔ لویه حادثه چې راغله نو پته ولږېده چې داسې نهٔ وه۔

دَ دې ټولو خبرو نه علاوه یوه مشکله خبره دا ده چې بعضې رذایل داسې دي چې هغه وي نو بنده ترېنه ځان فارغ ګڼي اؤ چې نهٔ وي نو ځان پکښې مبتلا ګڼي لکه تکبر۔اوس چې دَ چا شیخ نه وي اؤ تکبر پکښې وي نو دے خو به داګڼي چې پهٔ ما کښې تکبر نشته حالانکې تکبر به پکښې وي اؤ چې کله

تکبر ورکښې نهٔ وي نو دے به دا غم کوي چې ما کښې تکبر دے ـ اوس چې دَ چا شيخ وي نو هغه به ئې خبردار کړي چې حقيقت څهٔ دے۔دَ دې مثال داسې دے چې بعضې وخت زکام دَ وجې دَ س دړد راشي اؤ بعضې وخت کښې دَ بلډ پريشر دَ زياتئ دَ وجې ـدَ زکام دَ دړد که چا پرواه ونکړه نو خير ډير نقصان نه کوي اؤ کهٔ دَ بلډ پريشر دَ سر دَ دړد چا پرواه ونکړه نو فالج هم کيدے شي دَ دماغ رګ هم شليدے شي اؤ هغه ډير لوئے نقصان وي۔داسې وخت کښې دَ ډاکټر حکيم نګراني ډير وزن لري نو دغه شان بعضې رذايل داسې وي چې بغير دَ شيخ دَ نګرانئ ګزاره ګرانه شي۔

دَ حاصل دَ غير حاصل ګڼلو يوه خرابي دا هم وي چې بعضې وخت سالک مايوس شي اؤ هډو همت نه بيا کار نهٔ اخلي اؤ دا وګڼي چې دا زما دَ وس کار نهٔ دے اؤ هغه نعمت بيا پهٔ رښتيا ختم شي حالانکې الله تعالیٰ چرته هم دَ داسې څيز حکم نهٔ ورکوي چې بنده کولے نشي۔اؤ دَ غير حاصل دَ حاصل ګڼلو دا نقصان وي چې دَ هغې سالک اهتمام ختم کړي اؤ محروم شي۔دغه سان دَ غير راسخ دَ راسخ ګڼلو هم دا نقصان دے چې سالک دَ دَ دې دَ تکميل کوشش پريږدي اؤ دَ راسخ دَ غير راسخ ګڼلو نتيجه هم پريشاني اؤ تعطل وي۔مثلاً دَ حرام شهوت مقابله ئې وکړه اؤ نوے نوے ذکر چې ئې شروع کړےؤ دَ هغې سره دَ حرام شهوت تقاضا داسې ډوبه شوه چې بالکل دې طرف هډو خيال هم نهٔ تلو اؤ کله چې دا جوش و خروش کم شو اؤ دې طرف ته طبعي التفات شروع شو چې پکښې الله تعالیٰ ډير حکمتونه ايښي دي نو اګر دَ دې تقاضا کمه ولې نهٔ وي ليکن چونکه سالک خو دا بالکل ختمه ګڼلي وه نو دې سره دے داسې وګڼي چې شايد زما ټوله مجاهده

بېکاره شوه.مایوسی نه پس ده چې کله همت بیالو نو په رښتیا باندې د ے بیا حرام شهوت کښې مبتلا شو دغه څوک چې دَ چا کامل کس په لاس کښې وي نو هغه ئې پوه کړي اؤ بنده دې تاترین کښې دَ غورزېدو نه بچ شي.

په زرګونو داسې مثالونه بنده ورکولے شي چې محض معلوماتو سره اصلاح نهٔ کیږي بلکه دَ اصلاح دَ نظام یو عملي ترتیب وي اؤ په هغې باندې عمل هغه وخت کېد ے شي چې سالک دَ کامل شېخ په نګرانی کښې وي اؤ دَ دې نه دا پته هم ولږېده چې مرید ته خپل شېخ سره دَ اصلاح دپاره څنګه رابطه کول پکار دي اؤ هغه داده چې مرید ته خپل حالت هوبهو خپل شېخ ته بیانول پکار دي کهٔ ښهٔ وي کهٔ خراب.سالک ته دا اختیار نشته چې خپل څهٔ کار ته دې دَ ښهٔ یا خراب پخپله نسبت وکړي ځکه چې په دې کښې د ے دهوکه کېد ے شي.دا کار دَ شېخ د ے چې دَ واقعاتو دَ تسلسل نه دَ دې اندازه وکړي چې دا کار ښهٔ د ے که خراب. دې نه پس مرید ته دَ هغې دَ ښهٔ والي بد والي باره کښې څهٔ ووا ئ یا نه یا هغه ورته بغېر دَ څهٔ و ئیلو څهٔ طریقه وښا ئ چې په هغې عمل سره نتیجه ښه شي دواړه خبرې ټیک دي.

بعضې وخت کښې دَ سالک په علم کښې دا سې کار کول دي لېکن ورته دَ هغې تجربه نه وي اؤ په اصلاح کښې دَ تجربې دَ افادیت نه څوک انکار کولے شي.بعضې وخت سالک ځان دپاره دَ څهٔ ښهٔ کار کولے هم شي لېکن په خپل عمل هغهٔ ته اطمینان حاصل نهٔ وي اؤ په تشویش کښې مبتلا شي دَ کوم نش چې دَ یکسویی دپاره ډېر ضروري د ے.ورسره دا چې مخلص طالب ځان دپاره مشکله لاره غوره کوي دَ کومې دپاره چې زیاته مجاهده په ځان هېڅ بې هېڅه لازمه کړي .عېن ممکنه ده چې دا زیاته مجاهده برداشت نهٔ کړے شي

اؤ پهٔ دې کښې ناکامي هغه همېشه دپاره مايوسه کړي۔دَ دې پهٔ مقابله کښې تجربه کار شېخ دَ لارې پهٔ مشکلاتو پوه وي اؤ دَ سالک دَ استعداد اندازه هم صحيح لګولے شي نو هغه ورته دومره مجاهده اؤ ذکر وښا ئ چې فا ئده خو وررسوي لېکن دَ نقصان نه ئ بچ کړي۔دَ دې پهٔ وجه سالک پهٔ مقصود کښې کاميابي حاصله کړي اؤ پهٔ اسانه دَ نورې ترقۍ اهل جوړ شي۔
هرکله چې سالک کار شروع کړي اؤ پهٔ التزام سره دَ خپلو احوالو اطلاع خپل شېخ ته ورکوي اؤ دَ هغهٔ دَ مشورې اتباع کوي نو سالک ته زر زر کاميابي حاصلېږي اؤ دا هله کېدے شي چې پهٔ شيخ ئې کامل اعتماد وي اؤ ځان دَ اصلاح معامله کښې صرف دَ هغه دَ مشورې پابند ګڼي۔دې سره بنده دا محسوسولے شي چې دَ شېخ دَ رهنمايۍ نه بغر مقصود ته رسېدل ډېر ګران کار دے۔

# دَ شېخ کامل پېژندل

دَ شېخ پهٔ باره چې که دَ دې پته ولګېده چې دَ دهٔ صحبت څومره مفيد دے اؤ بغېر ددهٔ دَ رهبرۍ خپل مقصود ته رسېدل مشکل دي نو دَ شېخ کامل پېژندل بيا لازم شو ځکه چې خدا ے دې نهٔ کړي کهٔ څوک غلط پير ته پهٔ لاس ورغلل نو دَ هغهٔ مثال به داسې وي چې لکه ګاډے څوک ناتجربه کاره ډرائيور ته حواله کړي نو څهٔ به ئې حال شي۔الحمد لله بزرګانو دَ ضرورت پهٔ خاطر دَ شېخ کامل نخښې بيان کړي دي ۔پهٔ اختصار سره دا اته نخښې دي۔

1. دَ هغهٔ عقيدې صحيح وي۔ دَ دې مطلب دا دے چې دَ هغهٔ عقيدې دَ صحابه کرامو ؓ دَعقيدو پهٔ شان وي ځکه چې قران کښې دَ هدايت دپاره دَ صحابه کرامو ايمان معياري ګرځولے شوے دے۔) بقرة ۔137 (

2. دَ فرض عېن علم ورته حاصل وي۔
3. پهٔ هغه علم ورته عمل حاصل وي۔
4. دَ صحبت سلسله ئې دَ حضور ﷺ صحبت پورې رسي۔
5. پهٔ هغه سلسله کښې ورته اجازت يعنې خلافت حاصل وي۔
6. فېض ئې جاري وي ىعنې چې څوک ورسره پهٔ غرض دَ اصلاح رابطه کوي نو هغوی ته فا ئده رسي۔
7. مروت نهٔ کوي اصلاح کوي۔يعنې چې پهٔ چا کښې روحاني مرض وي ورته و ئيلے شي چې پهٔ تا کښې دا مرض دے۔
8. پهٔ صحبت کښې ئې دَ الله تعالیٰ مينه زياتيږي اؤ دَ دنيا مينه کميږي۔

ابن عربي ؒ فرما ئ چې شېخ داسې پکار دے چې دين پهٔ کښې د ، انبياء پهٔ شان وي ،تدبير دَ اطباء پهٔ شان کوي اؤ سياست ئې دَ بادشاهانو پهٔ سان وي۔

پهٔ چا کښې دا علامتونه وي نو دَ هغوی صحبت پکار دے اختيار کړے شي۔دا کس دَ دې قابل دے چې ورنه بنده لاس نيوه وکړي۔دَ دوی زيارت اؤ خدمت دې بنده خپل ډېر سعادت وګڼي۔دَ دې سعادتونو اؤ کملاتو نهس دې پهٔ دهٔ کښې دَ کرامتونو اؤ دَ کشفونو اؤ دَ تصرفاتو دَ کتلو خواهش دې هېڅکله بنده نهٔ کوي ځکه چې دَ شېخ دپاره دا څيزونه هېڅ ضروري نهٔ دي۔

## مناسبت دَ شېخ

دا امر دَ تجربې نه ثابت شوے دے چې دَ فيوض باطني دَ انتقال دپاره دَپاره دَ پير اؤ دَ مريد پهٔ خپلو کښې مناسبت ډېر ضروري اؤ فطري شرط دے ځکه چې عادتاً نفع پهٔ الفت موقوف ده کوم چې دَ مناسبتِ فطري حقيقت دے اؤ دَ دې دَ نش پهٔ وجه بعضې وخت مشائخ طالب بل شېخَ ته وليږي دَ چا سره چې

دَ هغوی پهٔ خیال دَ دې سالک مناسبت معلوم شي ځکه چې پهٔ دې طریقه کښې دَ مصلح سره مناسبت ډېر ضروري څیز دے۔دَ مناسبت نه بغېر طالب ته نفع نهٔ رسي اؤ دَ دې مناسب مطلب دادے چې دَ شېخ سره دومره انس وي چې دَ شېخ پهٔ څهٔ قول یا فعل دَ مرید پهٔ زړهٔ کښې څهٔ طبعي نکیر پېدا نشي خېر دے کهٔ عقلي نکیر وي یعنې دَ شېخ ټولې خبرې دَ مرید خوښې وي اؤ دَ شېخ دَ مرید سره څهٔ انقباض نهٔ وي۔دغه مناسبت بېعت دپاره شرط دے ځکه دَ دې مناسبت دَ پېدا کولو کوشش کول پکار دي ځکه چې دَ دې سخت ضرورت دے۔تےرځو چې دا نهٔ وي نو ټول مجاهدات ،ریاضتونه ، مراقبات ،مکاشفات وغېره بېکار دي۔هېڅ نفع به نهٔ حاصلېږي۔که طبعه مناسبت نهٔ نو عقلي دې پېدا کړې شي۔پهٔ دغې نفع موقوف ده ځکه چې تر څو پوره مناسبت نه وي نو بیعت نهٔ دي کول پکار۔

## دَ شېخ کامل دَ صحبت فائدې

1. کوم صفات چې پهٔ شېخ کښې وي هغه وروورو پهٔ مرید کښې دَ هغهٔ دَ صحبت پهٔ ذریعه راشي۔
2. که کامله اصلاح ونشي نو کم ازکم خپل غېبونه پهٔ نظر راشي چې دَ اصلاح کنجي ده۔
3. وروورو پهٔ مرید دَ شېخ رنګ خیږي دَ څهٔ پهٔ وجه چې هغه دَ خپل شېخ دَ اخلاقو اؤدَ عادتونو اتباع شروع کړي۔دَ شېخ پهٔ صحبت کښې چې کوم ملفوظات اؤ افادات اوري هغه هغه دَ هغهٔ دَ ټول عمر دَ تجربو نچوړ وي یا دَ هغهٔ پهٔ زړهٔ دَ هغهٔ دَ مریدانو دپاره دَمناسب مضمونونو القاء وي چې هغه دَ اصلاح دَ پاره ډېر مؤثر وي۔

4. دَشيخ مخکښې ځان بنده هېڅ نۀ ګڼي اؤ دا دَ اصلاح کنجي ده۔
5. دَ اهل صحبت پۀ صحبت کښې دَ مريد پۀ زړۀ کښې هم دَ الله تعالیٰ مينه راتلل شروع شي۔
6. مشائخ دَ خپل نيک عملونو پۀ وجه دَ برکت خاوندان وي ځکه دَ دوی پۀ تعليم کښې هم برکت وي دَ دې پۀ مقابله کښې دَ کتابونو نه دا څيز حاصلول ناممکن دي۔
7. دَ مقبولينو پۀ صحبت کښې چې څوک وي نو يا به دَ هغۀ حالت ښۀ وي يا خراب ۔که ښۀ وي نو دا حضرات به پرې خوشحال شي اؤ زړۀ به ئې ورته دعا وکړي چې دَ څۀ پۀ وجه به ورته نوره ترقي ملاؤ شي اؤ که حالت ئې خراب نو د شيخ دَ شفقت نظر به پرې پرېوزي اؤ اصلاح به ئې وکړي پۀ تعليم سره اؤ پۀ دعا سره۔دَ دې پۀ وجه دَ شيخ صحبت هر حال کښې نافع وګرځېدۀ۔
8. مريد چې کله دَ شيخ پۀ صحبت کښې وي نو دَ شيخ کمالات پۀ هغۀ ظاهرېږي اؤ پۀ دين دَ تلو سليقه چې دَ هغۀ شيخ ته عطا شوي وي هغه دَ هغۀ مريد ته هم ورووړو نصيب کېږي۔بل طرف ته پۀ شيخ دَ هغۀ عيبونه منکشف کيږي پۀ دې وجه دَدۀ دَ اصلاح پۀ باره کښې ورته نوره تجربه حاصلېږي دَ کومې پۀ وجه چې هغه دَ هغه دپاره زياته بهتره رائے قائمولے شي دَ څۀ پۀ وجه چې دَ مريد اصلاح نوره هم تېزه شي۔
9. دَ دې حضراتو زړونه دَ خدائے پۀ ياد روښانه وي نو دَ دوی سره پۀ ناسته باندې دا نور ورووړو دَ هغۀ دَ مريدانو زړۀ ته هم راشي۔نور چې چرته راشه هلته نه ظلمت وتښتي دَ دې پۀ وجه حجابات ختمېدل شروع شي دَ څۀ پۀ وجه چې پۀ مريد خپل حېثيت اؤ دَ الله تعالیٰ عظمت منکشف کېدل شروع شي دَ

ځهٔ پهٔ وجه چې دَ زړهٔ دَ رنځونو اصلاح پخپله کېدل شروع شي اؤ ډېر زر مرید واصل شي۔

10. مرید چې دَ شېخ پهٔ خدمت کښې وي نو دَ بزرګانو دَ خدمت موقع ورته هم ملاوېږي۔بعضې وخت دَ قبولیت ځهٔ داسې وخت کښې دے څه داسې خدمت وکړي چې دَ دهٔ دپاره دَخپل شېخ پهٔ زړهٔ دَ ډېرې مینې جذبې پېدا شي اؤ دَ هغو په وجه دے ډېر زر واصل شي۔الله تعالیٰ دې مونږ ټول پهٔ واصلینو کښې کړي۔آمین۔

تنبیه۔ دَ شېخ دَ صحبت حرص خو ډېر ښهٔ شے دے خو افراط تفریط دوړه ښهٔ نهٔ وي ۔دا ټولې خبرې پهٔ دې باب کښې دَ تفریط دَ ختمولو دپاره وې ګڼي نو پهٔ دې کښې افراط هم نقصاني ګرځېدے شي۔دا ټولې خبرې پهٔ خپل خپل ځاے صحیح دي که دو سره شېخ ته تکلیف نهٔ رسي اؤ دَ هغهٔ مزاج اؤ حالاتو مطابق چې کوم وخت هغهٔ دَدې دپاره وقف کړے دے اؤ ځهٔ قانون ئې ورته جوړ کړے وي دَ هغې مطابق پهٔ هغه موقعو کښې دَ حاصلولو کوشش وکړے شي ګڼي نو دَ مریدانو دَ شېخ دَ صحبت دَ حصول هغه کوشش کوم چې دَ دې پهٔ خلاف وي اؤ شېک ته دَ هغې نه ذهني یا جسماني تکلیف رسي هغه ډېر نقصان کولے شي۔دَ دې دپاره دَ شېخ دَ مزاج ښهٔ تحقیق کول پکار دي چې هغه خپلو مریدانو ته پهٔ کومه طریقه صحبت میسر کول غواړي هم هغه شان دې ئې دَ حاصلولو کوشش وکړے شي۔چې کوم وختونه شېخ دَ دې دپاره وقف کړي دي پهٔ هغو کښې دې خپل کارونو ځهٔ داسې طریقې سره دې مخښې وروستو کړے شي چې دَ هغوی دَ صحبت نه زیات نه زیات مستفید شي۔

# دَ طرِیقت بیعت

هرکله چې شیخ کامل ملاؤ شي اؤ دَ هغهٔ سره دَ مناسبت پته هم ولګي اؤ هغه شیخ هم دَ دهٔ پهٔ تربیت کښې اخستلو ته اماده شي نو دَ دې دپاره یوه معاهده کیدے شي چې هغه ډیره فا ئده لري۔دې ته بیعت و ئیلے شي۔پهٔ دې کښې بنده دَ شیخ پهٔ لاس کښې لاس ورکړي اؤ دا عهد وکړي چې خپل تربیت دپاره به زهٔ صرف دغه شیخ سره تړون لرم اؤ شیخ دَ هغهٔ دَ تربیت اراده وکړي۔دا سنتِ مستحبه دے۔دَ دې پهٔ ذریعه اکثر خلقو ته یو ډیر لوۓ نعمت چې ورته نسبت وا ئ حاصل شي۔ حضور ﷺ صحابه کرامؓ دَ ایمان اؤ دَ جهاد دَ بیعت نه علاوه هم دَ اعمالو دَ اهتمام دپاره بیعت کړي دي لکه چې دَ حضرت عوف بن مالک رضی الله عنه نه روایت دے:

عن عوف ابن مالک الاشجعی(رضی الله عنه) قال کنا عند النبی صلی الله علیه واله وسلم " تسعة او ثمانیة او سبعة فقال الا تبایعون رسول الله صلی الله علیه واله وسلم فبسطنا ایدینا وقلنا علیٰما نبایعک یا رسول الله قال ان تعبدوا لله ولا تشرکوا به شئیا وتُصَلُّواْ صلوات الخمس وتسمعوا و تطیعوا" (الحدیث اخرجه مسلم و ابو داؤد و نسائی)

یعنې حضرت عوف بن مالک اشجعي فرمائ چې مونږه دَ حضور ﷺ سره ناست وو نههٔ کسان وو یا اتهٔ یا اؤو۔هغوی ارشاد وفرمائیل چې تاسو د رسول الله ﷺ نه نهٔ بیعت کیږئ مونږه خپل لاسونه خوارهٔ کړل اؤ عرض مو وکړو چې پهٔ کوم امر ؟ هغوی وفرما ئیل پهٔ دې چې دَ الله تعالیٰ عبادت کوئ ، دَ هغهٔ سره څوک شریک مهٔ ګڼئ ،پنځهٔ نمونځونه کوئ ،احکام و اورئ اؤ ویمنئ ۔دا روایت کړے سے مسلم شریف ،ابو داؤد شریف اؤ نسائ شریف۔پهٔ دې بیعت کښې حضور ﷺ نه چې صحابه کراموؓ کوم بیعت کړے دے دا نهٔ بیعتِ اسلامي دے نه بیعتِ جهادي ۔ لِهٰذا پهٔ دې حدیث شریف کښې پهٔ

مشائخو کښې دَ مروج بیعت ثبوت موجود دے۔لکه څنګه چې په فقه کښې څلور سلسلې دي حنفي ،شافعي، مالکي اؤ حنبلي دغه شان په فنِ تصوف کښې هم څلور سلسلې زياتې مشهورې دي۔ يعنې چشتيه ، نقشبنديه ،قادري اؤ سهرورديه۔کوم کس ته چې کومې سلسلې سره مناسبت وي هغه دې په هغه سلسله کښې بيعت شي۔کافي خو صرف يوه سلسله وي ليکن زمونږ اکابر په څلورو واړو سلسلو کښې بےعت کوي چې دَ ټولو ادب وشي اؤ دَ سلسلو دَ مقابلې کولو فضول حرکت نه چې بعضې مغلوب الحال صوفيان ئې کوي بنده بچ شي۔

## دَ بيعت حقيقت

په بيعت کښې دَ بيع لفظ موجود دے يعنې خرڅېدل ځکه چې څوک دَ کوم بزرګ نه بيعت کوي نو دَ ګويا مطلب دا شو چې دهٔ دَ احکام ظاهره اؤ باطنه دَ التزام دپاره خپل ځان په خپل شيخ خرڅ کړو چې دَ دې حقيقت دادے چې سالک ته دې په خپل شيخ مکمل اعتماد حاصل وي چې دوی زما خير خواه دي۔چې کومه مشوره به راکوي هغه به زما دپاره نافع وي اؤ په دې به ئې پوره اطمينان وي۔دَ هغهٔ په تجويز اؤ تشخيص به څهٔ دخل نهٔ کوي ۔داسې يقين به ساتي چې په ټوله دنيا کښې دَ تربيت دپاره مادپاره دَ دوی نه زيات غوره کس بل نشته۔۔دغې ته په اصطلاح کښې وحدت مطلب وئيلے شي۔دَ دې نه بغير بيعت نافع نهٔ وي دا ځکه چې دَ نفس دَ اصلاح دَ پاره دَ شيخ سره ناسبت ډير ضروري دے۔دَ دې پته داسې لګي چې دَ هغه تعظيم ،په قول ، په فعل اؤ حال باندې په زړهٔ کښې څهٔ اعتراض نهٔ راځي اؤ بالفرض که را هم شي نو په هغې ورته تکليف رسي ۔دَ عوام دپاره البته دَ بيعت فائده ډيره ده ۔ په بيعت کولو

دَ هغوی پهٔ زړه کښې دَ شېخ عظمت اؤ شان راسخ شي۔دَ هغې دا اثر وي چې دَ دَ وېنا نه مخ نشي اړولے۔خواص دپاره البته څهٔ موده پس بېعت کول ښهٔ دي۔بېعت سره پهٔ جانبېن کښې يو خلوص اؤ تعلق پېدا شي۔شېخ دا ومني چې دا زما مريد دے لهٰذا دَ هغهٔ دَ اصلاح خيال ساتي اؤ مريد دا ګڼي چې دا زمونږه مشر اؤ مقتدا دے خبره ئې مني اؤ پهٔ کارونو کښې ئې دَ زړهٔ نازړهٔ حالت ختم شي۔

## دَ بېعت کولو طريقه

دَ دې دپاره شېخ دَ مريد لاس پخپل لاس کښې واخلي اؤ کهٔ ډېر خلق وي نو هغوي دَ څادر يا دَ رومال څهٔ حصه لاس کښې ونيسي اؤ شېخ هم دَ دې څهٔ حصه ونيسي۔دغه شان مستورات هم دَ پردې پهٔ شا چې هلته دَ هغوی څهٔ محرم وغېره موجود وي دَ رومال پهٔ ذريعه بېعت کوي لکه څنګه چې حديث شريف کښې راغلي دي۔

عن عائشه رضی الله تعالیٰ عنها "مَا مَسّ رسول اللّٰه صلی الله علیه واله وسلم ید امراۃ قط اِلاّ اَنْ یاخذ علیها فاذا اخذ علیها فا عطته قال اذهبی فقد با یعتکَ رواه الشیخان و ابو داؤد ۔

دَ دې نه دا ثابتېږي چې بغېر دَ ښځو خپل لاس کښې دَ اخستلو حضور ﷺ ښځې بېعت کولې بيا به ئې فرمائيل چې ما تاسو بېعت کړې ځکه پهٔ مشائخو کښې دَ ښځو بېعت کولو پهٔ وخت دَ هغوی لاس پهٔ لاس کښې نشي اخستے۔

دا خو خبره وه دَ شېخ پهٔ خدمت چې څوک حاضر شي دَ هغوی دپاره دَ بېعت طريقه اؤ که څوک دَ شېخ دَ صحبت نه لرې وي نو هغوی دَ خط ،اي مېل يا دَ فون پهٔ ذريعه بېعت کولے شي۔دې ته بېعت عثماني وئيلے شي۔دا ځکه چې حضور ﷺ دَ بيعتِ رضوان پهٔ موقع دَ حضرت عثمانؓ پهٔ غېر موجودګۍ

کښې خپل ګس لاس پخپل ښي لاس باندې کښېښودلو اؤ وې فرمائيل چې ما عثمانؓ بيعت کړو.

## دَ بيعت په وخت تعليم

مريدانو ته داو ئيل پکار دي چې :

1. هر وخت په الله تعالیٰ نظر ساتۍ.عباد صرف دَ هغۀ کوئ اؤ صرف دَ هغۀ نه غواړئ.دَ هغۀ دَ راضي کولو کوشش کوئ اؤ هرحال کښې دَ هغۀ نه راضي وسئ.
2. په خوشحالۍ اؤ غم دواړو کښې په سنت عمل کوئ اؤ په کوم سنت چې عمل ونشي په هغې دې دَ زړه نه ندامت اؤ استغفار وي.خپل رائ دَ سنت مقابله ډېره بېکاره اؤ فول ګڼئ اؤ په سنت باندې عمل کوئ اؤ سنت باندې دَ عمل پېغام ټوله دنيا کښې دَ خورلو نيت وکړئ.
3. په ټولو عبادتونو کښې دَ سنت دَ طريقې دَ ايزده کولو اؤ بيا په هغې دَ عمل کولو کوشش جاري ساتئ.دَ معاملاتو دَ صفايۍ خيال اؤ اهتمام لرئ.خپل معاشرت دَ شريعت مطابق کولو اراده تانده ساتئ اؤ ډ، زړۀ دَ روحاني رنځونو مثلاً دَ تکبر ،عجب اؤ حسد وغېره علاج کولو سره روحاني فضائيل مثلاً تواضع ، تفويض اؤ اخلاص وغېره دَ حاصلولو کوشش کوئ اؤ دې دَ پاره دَ للہ تعالیٰ نه مدد غواړئ اؤ هر وخت دَ خپلې اصلاح فکر کوئ اؤ خپل رب طرف ته متوجه يئ.
4. شريعت اؤ طريقت خپلو کښې يو ګڼئ .په شريعت باندې عمل دپاره اؤ دَ عارضي مشکلاتو په وجه کۀ په دې څکمونو عمل څۀ عارضي طور باندې مخکښې وروستو کول پرېوزي نو دَ دې په باره کښې دې شېخ سره رابطه

ضرور کوئ چې پهٔ دې سلسله کښې درت مناسب رهنمائ حاصليږي ولې چې دا کار ډېر نازک دے۔

5. شېخ چې درت کوم ذکر درکړے وي دَ هغې مکمله پابندي کوئ اؤ که درته پهٔ څه مشکلات محسوسيږي نو خپل شېخ ته اطلاع ورکوئ۔

6. چې کوم نمونځونه درنه قضا شوي وي دَ هغو قضا به داسې ښه وي چې دَ هر وخت نمونځ سره کم نه کم دَ يو قضا نمونځ فرض کوئ اؤ کهٔ دَ نماسختن نمونځ وي نو ورسره وتر به هم کول وي۔اؤ کهٔ فرصت اؤ همت وي نو بيا خو چې څومره زر کيږي دَ ټولو قضا نمونځونو نه ځان فارغول پکار دي ځکه دَ مرګ ژوند څهٔ پته۔ډغه دَ قضا روژو نيسل ،يا کوم زکوٰة چې درباندې پاتې وي اؤ لا مو نهٔ وي ورکړے نو هغه زکوٰة به هم درته درکول وي اؤ کهٔ حج درباندې فرض وي نو دَ هغې تيارے شروع کړئ۔

7. کهٔ دَ چا مالی حق درباندې وي نو هغه فوراًادا کړئ اؤ کهٔ دَ ادا کولو صورت ئ نهٔ وينئ نو بيا ئې پهٔ هغهٔ خپل ځان ته معاف کړئ ۔

8. دَ بد نظرئ نه داسې بچ کېدل دي لکه څنګه چې بنده دَ مار لړم نه ځان بچ کوي۔پهٔ کومو اخباراتو اؤ رسالو کښې چې تصويرونه وي نو دا کوشش کوئ چې هغه ونلولئ اؤ کهٔ وئيل ئې لازمي وي نو بيا دَ تصويرونو نه ئې ځان بچ کوئ۔دغه شان دَ ګانو دَ اورېدو نه هم ځان بچ کوئ اؤ پهٔ دې کښې دَ مدد اخستو دپاره يا هادی يا نور لا حول و لا قوة الا بالله العلی العظيم وايئ چې دَ دې شيطانان درباندې نهٔ حاوي کيږي۔

9. دَ هر قسمه حرام مال نه ځان بچ کوئ ۔دَ سوال ، اشراف نفس ، نمود و نمائش ، دَ شرک و بدعت رسمونو ، بې صبرۍ ،ناشکرۍ نه خپل ځان بچ کوئ۔دَ دې

دپاره داسې کتابونه ولولئ چې په کومو کښې دَ دې مذمت په مؤثر انداز کښې بيان شوے وي۔

10. دَ والدېنو دَ ټولاؤ جائزو حقونو پوره کولو کوشش کوئ ۔دَ دوی ناجائزې خبرې منئ خو مه خو دَ دوی په ادب کښې څۀ کمے مۀ کوئ۔کۀ څۀ مشکل وي نو دې باره کښې دَ شېخ سره مشوره کوئ۔دَ دې نه علاوه که شېخ څۀ تعليم درته وکړی، نو په هغې عمل کوئ۔دَ خپلو احوالو نه شېخ باخبر ساتئ اؤ دَ اطلاع اؤ اتباع طريقه جاري ساتئ۔

## دَ مرشد حقونه

1. دا عقيده ساتل چې زما مطلب دَ تربيت به صرف زما دَ خپل شېخ نه حاصليږي ځکه دَ دې دپاره صرف خپل شېخ طرف ته متوجه کېدل پکار دي۔کۀ دَ چا بل چا نه خوب کښې يا په ويښه څۀ فائده حاصله شوه نو دا هم دَ هغۀ برکت ګڼل پکار دي۔
2. دَ خپل شېخ سره محبت کول پکار دي ۔شېخ سره عقيدت هم کافي دے خو محبت ډېر مفيد دے ځکه چې دَ چا سره چې مينه وي نو دَ هغۀ خبره په هېڅ صورت نشي غورزولے۔
3. کومه وظيفه چې درته خپل شېخ درکړي صرف هغه کول پکار دي۔که چا بل چا وظيفه درکړې وي يا خپله مو شروع کړې هغه خپل شېخ ته ښودل پکار وي کۀ هغه اجازت ورکړي نو خېر دے ګني بيا ئې پرېښودل پکار دي۔
4. دَ خپل شېخ په موجودګۍ کښې ه مه تن خپل شېخ طرف ته متوجه کېدل پکار دي‌دَ فرائضو ، واجباتواؤ سنتونو نه علاوه نفلونه صرف دَ شېخ په وېنا کول پکار دي که هغه ئې منع کړي نو منع کېدل پکار دي۔ خپل زړه هغه وخت

پهٔ دې پوهول پکار دي چې بعضې وخت مريض دپاره ډاکټر حکيم ملائی هم بنده کړي حالانکه هغه دَ صحتمند دپاره ډېره ښهٔ وي۔

5. کهٔ مرشد څهٔ ووائ اؤ وربانديې بنده پوه نشي نو مناظره ورسره نهٔ دي کول پکار اؤ که بيا هم تشويش پاتې وي نو دَ موسیٰ عليه السلام اؤ دَ خضر عليه السلام واقعه دي بنده ياده کړي۔ قلندر هر چه گويد ديده گويد

6. دَ مرشد دَ اواز نه خپل اوز کم ساتل پکار دي ليکن دومره کم هم نه چې مرشد ته ئې پهٔ اورېدو کښې څهٔ مشکل جوړ شي۔

7. خپل هر څنگه حال چې وي هوبهو هم هغه شان خپل مرشد ته ئې وئيل پکار دي اؤ چې بيا دَ دې پهٔ باره کښې شيخ څهٔ ووا ئ نو هغه زړهٔ سره بيا قبلول پکار دي۔

8. دَ خپل شيخ پهٔ صحبت کښې څهٔ وظيفه وغيره يا لسانه ذکر نهٔ دي کول پکار۔البته کهٔ شيخ پخپله ووا ئ نو بيا بله خبره ده۔

9. هر يو ديني خدمت چې بنده کوم پخپل شرح صدر کول غواړي دَ هغې سره دَ بنده هر څومره تعلق دېولې نهٔ وي خو چې شيخ ئې ترېنه منع کړي نو فوراً منع کېدل پکار دي ځکه چې شيخ پهٔ مريد ښهٔ پوهيږي۔

## دَ شيخ اؤ دَ مريد تعلق

نن صبا خلق چونکې پهٔ دے بانديې ډېرنهٔ پوهيږي نو دَ دې پهٔ وجه دې باره کښې ډېر زيات افراط تفريط دے ځکه دَ دې دَ وضاحت ضرورت ډېر دے۔دَ مريد دپاره دَ مرشد مثال لکه دَ يو طبيب دے يا دَ يو شفيق رهبر ۔شيخ خپل مريد ته دَ خپل بصيرت پهٔ رڼا کښې لاره ښائ يعني مريد ته تعليم کوي دَ څهٔ نه ئې منع کوي اؤ دَڅهٔ دَ کولو دپاره ورته وائ ۔دَ څهٔ نه ئې چې منع کوي دَ

هغې مثال لکه دَ پرهېز دے اؤ دَ څهٔ کولو دپاره چې ورته وائ هغې کښې چې دَ بیمارۍ دَ علاج دپاره چې کوم دي دَ هغې مثال دَ دوایَ دے اؤ دَ کوم نه چې روحاني قوت حاصلیږي دَ هغې مثال لکه دَ غذا دے۔لکه څنګه چې عام غذا دَ جسم اؤ دَ طاقت دَ پاره وي اؤ ذکر دَ روح اؤ دَ روحاني طاقت دپاره وي۔ کهٔ څوک دَ غذا اؤ دَ دوا اهتمام خو کوي خو پرهېز نهٔ کوي نو عېن ممکنه ده چې دوا ورباندې بالکل اثر پرېږدي اؤ جسم ته ئې ډېر نقصان ورسي یا ورته دَ دوایَئ دَ بدلولو ضرورت پېدا شي ۔دغه شان دَ غه شان شېخ چې مرید ته کوم تعلیم کوي نو پهٔ هغې پوره پوره عمل پکار وي ګني مطلوبه بیا نشي راتلے۔دغه شان دَ شېخ دَ صحبت اهتمام ډېر پکار دے اؤ دَ دې پهٔ غېر موجودګۍ کښې مکاتبت یا څهٔ بل څهٔ ذریعې مثلاً ټېلیفون ، اي مېل ، مېسج وغېره استعمالول پکار دي ځکه چې مرید باندې دا لاژم دي چې هغه خپل صحیح صحیح حال خپل شېخ ته بیان کړي اؤ چې ورته هغه څهٔ تعلیم وکړی نو پهٔ دې بیا عمل کوي دغې ته اطلاع اؤ اتباع وئیلے شي۔دَ دې اطلاع اؤ اتباع حالت صحیح ساتلو دپاره دا ضروري ده چې مرید دې دا یقین وساتي چې زما شېخ زما دپاره پهٔ کل جهان کښې دَ دې مطلب دپاره ټولو نه زیات مفید دے۔ افضل نهٔ دي وئیل پکار ځکه چې دَ دې پته صرف الله تعالیٰ ته وي۔هرکله چې شېخ دَ دې مطلب دپاره مفید ترین شو نو بیا لاژماً دَ هغه سره دې مرید خپل زړهٔ داسې وابسته کړي چې بل طرف ته ئې دَ دې مطلب دپاره هډو خیال رانشي۔دغې ته توحید مطلب وائ چې مشائخو پرې ډېر زور اچولے دے۔دَ دې مثال دَ ظاهري مرض پهٔ صورت کښې دا دے چې پهٔ یو وخت دَ ډېرو ډاکټرانو نه علاج نقصاني وي۔ څلور حقه دَ مرشد دي کړه ئې

یاد

اطلاع و اتباع هم اعتقاد و انقیاد

# دَ شېخ مقام

بعضې خلق پهٔ لويو لويو مشائخو پسې سرګردانه ګرځي اؤ دَ خپلو نزدې مشائخودَ فيض نه محروم پاتې شي۔دَ شېخ نه دَ فېض حاصلولو دپاره دَ هغهٔ لوېوالے نهٔ دي کتل پکار بلکه دَ هغهٔ سره دَ مناسبت خيال ساتل اؤ دَ رابطې قائمول ضروری وی۔که یو شېخ ډېر لوے وي لېکن دَ هغهٔ سره مناسبت نهٔ وي يا هغهٔ سره دَ رابطې اسان صورت موجود نهٔ وي نو دَ هغهٔ نه به فائده بيا څنګه ملاوېږي۔دَ شېخ اؤ دَ مريد پهٔ تعلق باندې دَ شېخ دوه څيزونه ډېر اثر اچوي يو دَ هغهٔ صاحب فن کېدل اؤ بل دَ هغهٔ دَ برکت خاوند کېدل۔دَ هغهٔ دَ فن نه دَ استفادې دپاره اطلاع اؤ اتباع پکار ده اؤ هغه پهٔ رابطه انحصار لري۔برکت چونکې دَ هغهٔ پهٔ تعليم کښې وي نو که دَ تعليم حاصلولو څهٔ معقول صورت نهٔ وي نو برکت به څنګه راځي؟ دغه وجه ده چې دَ اوېس قرنی رحم الله عليه اګرچې ډېر اوچت مقام ؤ لېکن دَ صحابی رضي الله عنه نه کم دے۔دا ځکه چې صحابی ته دا مقام دَ حضورﷺ صحبت پهٔ وجه حاصل شوے دے اؤ دَ دې څهٔ بل څهٔ بدل نشته۔ دَ برکت خاوند کېدو دپاره دا خبره کافي ده چې هغه صاحبِ سلسله وي ځکه چې دَ برکت ماخذ پهٔ دې کښې سلسله وي۔

دويمه خبره دا ده چې دَ لوۓ شېخ سره ډېر نزاکتونه هم راشي اؤ هر څوک دا نزاکتونه نشي برداشت کولے۔دَ دې پهٔ وجه بعضې خلق دَ لويو مشائخو په صحبت کښې هم محروم شي اؤ دَدې چونکې وجوهات بېشماره دي نو پهٔ دې

خبره دلته ممکنه نهٔ ده۔داسې حالاتو کښې چې کوم ټولو کښې نزدې شېې چې چا سره مناسبت وي اؤ رابطه ورسره اسانه وي هغوی طرف ته رجوع کول زيات بهتر ښکاري۔غالباً پهٔ دغې وجه بعضې لوئے شېخان بيض طالبين بل چاته واستوي۔بعضې حضراتو پهٔ دې باب کښې دَ بجلۍ دَ ستنې مثال ورکړے دے چې کهٔ هرې ستنې سره دَ بجلۍ بلف ولګولے شي نو بليږي خو به هغه دَ خپل طاقت موافق ۔هغه ستن کهٔ پاور هاؤس کښې لګيدلي نو هم اؤ کهٔ عامه ستن وي نو هم۔ځکه دا بنده وئيلے شي چې شېخ چې صحيح شېخ وي ،که وړوکے وي که لوئے، مريد دَ خپل استعداد مطابق ترېنه فېض اخلي۔بلکې بعضې وختونو کښې خو مريد دَ خپل شېخ نه هم مخکښې لاړ شي ځکه چې مربي حقيقي خو خدائے تعالیٰ دے هغه دَ هر طالب دَ طلب اؤ استعداد مطابق دَ شېخ دَ منور زړهٔ نه دَ عرفان چينه جاري کړي۔دَ دې پته بيضې وختونو کښې پهٔ غړېدلو سترګو داسې کيږي چې دَ بعضې طالبينو پهٔ موجودګۍ کښې دَ شېخ پهٔ زړهٔ داسې عالي مضمونونه راوريږي چې دَ هغو پته شېخ ته هم مخکښې نهٔ وي۔پهٔ دغه وجه بعضې مشائخ دَ خپلو ملفوظاتو دَ قلمبند کولو خپله بندوبست کوي چې هسې نه دَ چا طالب پهٔ برکت دَ دنيائے عرفان نه څهٔ قيمتي دولت پهٔ لاس ناساپه راشي هغه دَ غفلت لهٔ کبله ضائع نشي۔

## دَ تصوف سلسلې

لکه څنګيه چې مخکښې وئيلے شوي دي چې دا سلسلې دَ صحبت سلسلې دي۔دَ مقصد پهٔ اعتبار سره ټولې يو دي لېکن خپلې خپلې ذريعې ئې اختيار کړي دي۔مثلاً سلسله چشتيه پهٔ دې زور اچوي چې اول دې رذايل لرې شي

بیا دي فضا ئیل په زړه کښې راوستے شي اؤ نقشبندیه دَ فضا ئیلو په ذریعه رذایل ختموي۔دغه سان دَ سلسله قادریه اؤ سهروردیه هم خپل خپل اصول دي۔لکپه ځنګه دا پکار دي چې خپل شیک دې بنده مفید وګڼي خو دَ نورو مشائخو دَ تنقیص نه بغیر ۔هم دغه شان دې بنده دَ خپلې سلسلې نه دې پوره اسفاده کوي خو په نورو سلسلو دې تنقید نه ځان ساتي۔

## دَ څلورو واړو سلسلو دَ مشائخو نومونه

دَ سلسله قادریه سرخیل حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رحمته الله علیه دے ،دَ چشتیه سلسلې سرخیل شیخ معین الدین چشتي اجمیري رحمته الله علیه دے ، بیا دَ دوه شاخونه دي دَ یو د صابریه څشتیه سلسلې سرخیل حضرت صابر کلیري رحمته الله علیه دے اؤ دَ بلې نظامیه چشتیه سلسلې سرخیل حضرت خواجه نظام الدین اولیاء رحمته الله علیه دے۔دَ نقشبندیه سلسلې سرخیل حضرت شیخ بهاو الدین نقشبندي رحمته الله علیه دے اؤ دَ سهروردیه سلسلې سرخیل حضرت خواجه شهاب الدین سهروردي رحمته الله علیه دے۔

## شجره اؤ دَ دې اهمیت

دَ حضور ﷺ مناصب چې کوم الله تعالیٰ په قران پاک کښې بیان کړي دي هغه څلور دي ۔ دَ قران تلاوت ، دَ صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین تزکیه ، دَ کتاب الله تعلیم ورکول اؤ دَ حکمت تعلیم ورکول۔دَ قران دَ تلاوت ذمه داري قاریانو صاحبانو واخستله۔تزکیه دَ صوفیانو کرامو په حصه کښې راغله اؤ دَ علم و کحمت کار الله تعالیٰ دَ عاکمانو صاحبانو نه واخستلو۔په علماۓ کرام کښې محدثین کرامو دَ حضور ﷺ احادیث شریفه امت ته هو

بهو دَ رسولو انتظام وکړو۔دَ دې مقصد دپاره هغوی دَ سندونو دَ حفاظت دَ پاره دَ هغوی دَ روایت اصلي ترتیب یادول شروع کړل ۔ دغه شان صوفیانو صاحبانو دَ خپل صحبت دَ سند بیانولو دپاره هم دغه شان دَ صحبت ترتیب یادول شروع کړل ۔اکثر دا په دعایيه انداز کښې وي۔دغې ته شجره وئیلے شي۔بعضې صوفیاۓ کرامو دَ یاداشت دَ اسانۍ دپاره دا پهٔ نظم کښې پیړلي وي۔مریدان پهٔ دې کښې دَ خپلو مشائخوپهٔ وسیله دَ الله تعالیٰ نه مدد غواړي۔

## دَ بنده نسبت

بنده ته دَ خداۓ تعالیٰ پهٔ فضل دَ حضرت صوفي محمد اقبال مدني رحمته الله علیه نه دَ حضرت شیخ الحدیث رحمته الله علیه په څلورو واړو سلسلو کښې اؤ حضرت مولانا ابو الحسن ندوی رحمته الله علیه پهٔ واسطه سره پهٔ طریقه قادریه راشدیه کښې اجازت حاصل دے اؤ دَ حضرت علي مرتضےٰ رحمته الله علیه پهٔ واسطه سره نقشبندیه سلسله کښې۔دَ حضرت سید تنظیم الحق کاکاخېل حلیمي صېب رحمته الله علیه نه پهٔ واسطه دَ حضرت مولانا فقیر محمد رحمته الله علیه نه څلورو واړو سلسلو کښې اؤ پهٔ واسطه دَ حضرت سید سیف الرحمٰن ګل بادشاه رحمته الله علیه مېخ بند بابا جي پهٔ سلسله قادریه نقشبندیه کښې ۔ دَ حضرت ډاکټر فدا محمد صېب مد ظله نه پهٔ واسطه دَ حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني رحمته الله علیه نه څلورو واړو سلسلو کښې اجازت حاصل دے۔ دَ حضرت میا سید بشیر کاکاخېل رحمت الله علیه نه پهٔ واسطه دَ حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني رحمته الله علیه نه څلورو واړو سلسلو کښې اجازت حاصل دے۔ دَ حضرت مولانا

عبدالرحمان صديقي صيب رحمت الله عليه نه پهٔ ؔکتلفو واسطو دَ مولانا احمد علي لاهوري رحمت الله عليه ،دَ حضرت شاه عبد القادر راۓ پوری رحمت الله عليه اؤ دَ حضرت مولانا حسين احمد مدني رحمت الله عليه پهٔ سلسلو کښې اجازت حاصل دے۔ دَ حضرت حاجي عبد المنان صيب مد ظله نه پهٔ واسطه دَ حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني رحمته الله عليه نه څلورو واړو سلسلو کښې اجازت حاصل دے۔ دغه شان پهٔ مختلفو واسطو دَ حضرت مولانا عبد الغفارصيب مد ظله نه پهٔ بېشماره سلسلو کښې اجازت حاصل دے۔

## امور تصوف

اوس پهٔ څو ليکو کښې دَ تصوف خلاصه پېش کولے شي کوم چې دَ مشهور کتاب شريعت اور طريقت نه اخستلے شوي ده۔دې ته بلا شبه دَ تصوف خلاصې هم وئيلے کېدے شي۔

۱۔ مقصود

الف۔اعمال

ب۔ثمرات

۲۔ غېر مقصود

الف۔ذرائع

ب۔توابع

ج۔موانع

۱۔الف۔اعمال

دَ اعمالو دوه قسمونه وي
۱ـ جلبي اعمال۔ جلب پۀ عربئ کښې دَ څۀ څیز حاصلولو ته وائ نو دَ دې نه دَ هغه اخلاقو حاصلول مراد دي دَ کوم چې مطالبه شوي ده مثلاً دَ الله مینه، صبر ، شکر ،اخلاص ، تفویض ،تواضع، رضا ،صدق وغیره۔دو ته اخلاق حمیده هم وائ۔
۲ـ سلبي اعمال۔ سلب دَ څیز دَ ځان نه لر کولو ته وائ۔نو دَ دې نه هغه اخلاق مراد دي دَ کوم نه چې منع شوي ده مثلاً دَ دنیا مینه،ریا ،تکبر،حسد ،کینه،بغض ،بې صبري ، ناشکري وغیره۔دو ته اخلاق رذیله و ائ۔
۱ـ ب ـثمرات ـنتیجې
دوه قسمه دي یو دَ بنده طرف نه چې دا توفیق ملاویږي چې هر وخت دَ الله تعالیٰ بندګي کولے شي۔دویم دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه رضا اؤ دَ قرب خاص عنایت کوم ته چې وصول وئیلے شي۔
۲ـ الف۔ ذرائع
دَ ذریغو دوه قسمونه دي۔
۱ـ مجاهده۔ پۀ دې کښې لږې خبرې کول ،لږ خوراک سخاک،لږ خوب اؤ لږو خلقو سره ملاوېدل بالخصوص دَ هغه خلقو دَ ملاوېدو نه ځان بچ ساتل دَ چا پۀ ملاوېدو کښې چې دیني نقصان وي۔
۲ـ فاعله۔ دا هم دوه قسمه وي۔یو فائده منه لېکن دَ خطرې نه پاکه مثلاً ذکر ، مراقبه اؤ شغل ـدویمه فائده منه لېکن خطرناکه مثلاً تصور شېخ ، سماع اؤ عشق مجازي۔
۲ـ ب۔توابع ـ

دَ دې سره په سلوک کښې دَ بنده واسطه راځي که بنده ئې غواړي اؤ کنه ـ دا په اختيار کښې نهٔ وي۔دَدې هم دوه قسمونه دي ـ يو هغه چې پکښې دَ نقصان احتمال هم کېدے شي په هغو کښې دا لاندېني کيفيات راځي۔

1. دَ سکر سره وحدة الوجود۔ يعني دَ وحدة الوجود دَ کيفيت په دوران کښې دَ شريعت دَ پابنديو طرف ته بې اختياره ذهن نهٔ تلل اؤ څهٔ داسې خبرې دَ خوٙلې نه وتل دَ کومو چې شرع اجازت نهٔ ورکوي۔ دې حالت کښې دَ بې اختيارۍ په وجه بنده خو معذور وي خو اقتدا ئې هم نشي کېدلے۔
2. کشف الٰهي۔ دَ الله تعالیٰ دَ ذات متعلق علوم اؤ معراف په زړه وارد کېدل۔
3. کشفِ کوني۔ کوم څيزونه چې عام خلق نشي ليدے دَ هغو ليدل۔دا دَ ماضي سره هم تعلق لرلے شي اؤ دَ مستقبل سره ـموجوده حالت کښې چې لرې يا نزدې دَ غائبو څيزونو باره کښې خبرېدل۔
4. استغراق۔ په څهٔ کيفيت کښې داسې غرقاوے چې دَ نورو څيزونو نه غفلت وشي۔
5. تصرف۔ خپل مهمت اؤ توجه سره بل کس يا څهٔ څيز متاثر کول۔
6. قبض و بسط۔ دَ قلبي وارداتو موجودګۍ ته بسط اؤ دَ دې نش ته قبض وئيلے شي۔الله چې پخپله په زړه دَ چا څهٔ القا کوي هغې ته وارداتِ قلبي وئيلے شي۔
7. کرامت۔ دَ چا نيک مسلمان په لاس څهٔ داسې کار کېدل چې عام خلق ئې په اسبابو نشي کولے۔
8. مشاهده۔ دَ څهٔ امر يا دَ هستۍ کامل استحضار۔دې ته کيفيتِ حضوري هم وئيلے شي۔

داسې توابع هم وي چې پکښې دَ ضرر څۀ احتمال نۀ وي ـهغه دادي۔

1. وجد۔ دَڅه عجيبه حالت محموده پۀ بنده غلبه کول چې دَ بنده اختيار کښې نۀ وي۔
2. ټيک خوبونه ـ صحيح خوبونه ليدل۔
3. دَ دعاګانو قبلېدل
4. الهام۔ دَ ولي الله پۀ زړۀ دَ الله پاک طرف نه څۀ خبره راتلل۔
5. فنا اؤ بقا۔ رذايل چې مغلوب شي دې ته فناءِ نفس وئيلے شي اؤ دَ دې ادراک چې هم ختم شي چې ماته فنا حاصله ده دې ته بقا وئيلے شي ـبعضې خلق دې ته فناء الفنا هم وا ئې۔
6. ې سکر وحدة الوجود۔ دَ زړۀ دَ الله تعالیٰ سره داسې تعلق جوړېدل چې پۀ هر څۀ کښې پۀ الله تعالیٰ نظر پرېوزي لکه څنګه چې نمر وي نو ستوري نۀ ښکاري۔
7. فراستِ صادقه۔ يعنې دَ څۀ کار ،څۀ څيز يا کس باره کښې صحيح اندازه لګېدل۔دغې ته بصيرت هم وئيلے شي۔